پښتنو ته ادبي سوغات

# د خوشحال خان خټک

# مَرغَلرِې

قندهار

# د خوشحال خان خټک کلیات

دا د پښتو لُومړی ادبی اثر، دَ پښتون ټولواک اعلحضرت محمد ظاهر شاه په عصر کی په امر دَ ع، ش سردار محمد داود خان د قندهار ملکی او لښکری مشر، په هغو مصارفو چه دَ دارلحکومگی په واک کی دِی، د قندهار په مطبعه کی په تصحیح او تحشیه او احتمام دَ عبدالحی حبیبی مدیر دَ طلوُع افغان چاپ او خپور شوُ.

دا کتاب له څلوروُ قلمی او ټولو چاپی نسخو څخه په ډیر زیار نقل شوی، او تر پخوانیوُ چاپی نسخو خورا بشپړ او ډیر دی.

قندهار. غویی ۱۳۱۷

## له وینکو سره یو څو خبری

د خوشحال خان خټک مرغلری، یعنی د پښتو د یوه نامتو او توریالی مشر ویناوی او اشعار لکه د پښتو ژبی نور خواږه او گرانبها ادبی آثار چه ورک او په هر گوټ کی چه پاته دی دغه کتاب هم ورک او د پښتنو نه لیری پاته وُ.

که څه هم په ښښتونخوا کی هری خوا ته د دې مرغلرو لاړونه یعنی د خوشحال خان قلمی کلیاتونه او دیوانونه ډیر وه مگر بشپړ او صحیح د پښتنو له خوا نه وه چاپ او خپاره شوی.

د پښتو د اوسنی نسل ځلمو او د ملی ژبی پوهانو او قدر پیژندونکو چه دا د ژبی اثر ور معلوم وُ، هر کله بې زړه غوښتنه چه نشر او خپور شی! او ما دا ډیر کلونه دغه ارمان په زړه کی درلود.

د ۱۳۱٦ په دوبی کی یوه ورځ د دغه اثر ذکر په قندهار کی د دې ځای د ځلمی او پښتون مشر والاحضرت سردار محمد داود خان په مخ کی وشو،، ځکه چه دوی د پښتو ژبی د ژوندون او خپورتیا سره د زړه مینه لری، نو یې امر وفرمایه چه دغه کتاب دِ چاپ شی او مصارف د چاپ یې هم له خپلی خوا ورته منظور کړه.

ما چه په کلو کلو دغه ارمان په زړه کی درلود ژر می دَ دغه کتاب ډیر قلمی او چاپی نسخې له هره خوا سره را ټولی کړی (چه تفصیل بې په لمړیو مخو کی دَ کتاب وکړم) او تقریباً یو کال می د شپې اور ورځی زیار وکیښ، چه ټوله نسخی می سره مقابله کړې، او یو جامع او بشپړ اثر می پښتنو ته وړاندی کی، که څه هم دغه کتاب به له اویا کلو څخه څو واره په هند کی چاپ شوی دی، مگر بشپړ او صحیح نه وُ، دغه نسخه چه اوس پښتنو ته وړاندی کیږی، حتی المقدور بشپړه ده او یو بیت هم له قلمی نسخو څخه ندی پاته شوی، چه دلته نه وی راغلی.

په تصحیح کی ئې ما هم ډیر زیار وکیښ، ردیفونه می برابر کړل، املا می حتی المقدور سمه کړه او ځنی گران لغات می حل کړل، هغه چه زه نه په پوهیدم هغه می پښتنو وروڼو ته پریښووه. دا دی چه زه لمړی خوشحال خان په تاسی پیژنم، او د ده د ادب مقام در ښیم وروسته نو د ده مرغلری در وړاندی کوم، که څه غلطی را څخه پیښه شی، ښاغلی پښتانه چه بخښنه او ښندنه د دوی د پښتونوالی پلارنی میراث دی، ما به وبخښی، د پښتونوالی په روڼه دنیا کی ما ته دغه خوښی او افتخار بس دی، چه د پښتنی لُمړی ادبی اثر پښتنو ته وړاندی کوم، او د پښتو او پښتونخوا په ادب کی، په یوه کوچنی خدمتگوتیی ویاړم، او له دی ځایه د پښتو د پلار خوشحال خان بږغ په هغه شپیلۍ کی پوکم، چه یو وخت ئی پښتانه په خواږه بږغ د مینی په نڅا او اتڼ کښیوته، او د لویو غرونو په دروکی به ئې د خپلی مینی د عشق سندری ویلې، او د خپلی پښتونوالی انگروزه یی پر جهان پرې یسته!

هیله لرم چه ښاغلی پښتانه دغه زما زیار او ښود، د نمنځنی په سترگوووینی، او د پښتنوالی په دود ئې ومنی ولی چه ما د دغه ادبی اثر په نشر کی ډیری شپی وهلی او ورځی می تیری کړی دی.

قندهار، دَ خواجه کلی، د کب شلمه شپه ۱۳۱٦هـ
عبدالحی حبیبی د طلوع افغان مدیر او لیکونکی

**هغه قلمی او چاپی نسخې چه دا کتاب ځنی بشپړ شوی دی:**

د دی ادبی اثر د بشپړتیا او تکمیل دپاره موږ هری خوا ته پلټنه او پوښتنه وکړه، او چاپی او قلمی نسخې مو را ټولی کړې، په چاپی نسخو کی خو اساس او اصل هغه نسخه ده، چه تقریباً اویا کاله دمخه په ۱۸۷۰عیسوی کال (۱۲۸۷هجری) د ډاکټر ډبلیو بلیو انگلیسی مستشرق له خوا د ده په تصحیح په اهتمام د سلطان بخش داروغه د پیښور په جیلخانه کی د یوی قلمی نسخی له رویه چه د افضل خان خټک په تصرف کی وه، طبع او نشر شوې ده.

تر دغه وروسته چه ټولی نوری نسخې په پیښور کی د دغه له رویه چاپ شوی دی، هر چا له ځانه لاس پکی وهلی او تقریباً اصل کتاب ئې ورک کړی دی، موږ دغه نسخه اساس وگرزوله، او جناب امین الله خان زمریالی د کابل د پښتو ټولنی عضو چه دغه نسخه ئې درلوده، موږ ته ئې راکړه.

دغه نسخه موږ د څلورو نورو قلمی او خوشخطو نسخو سره مقابله کړه، زوائد مو ټوله ولیکل او هر ځای مو زائد بیت ته چه چاپی نسخه کی نه وُ، په دی علامه (x) اشاره وکړه، او زیاتی بدلی او رباعیات مو بیل بیل د کتاب په حاشیه کی وښوول، اختلاف د نسخو مو حتی المقدور په حواشی کی ولیکه د قلمی نسخو تفصیل دا دی:

(۱) مهمه نسخه چه په تقریباً ۱۵۰۰مخ کی پر اعلا زاړه کاغذ خورا خوشخط په ۱۱۲٤هجری کال په اتلسم د جمادی الثانی د شیخ محمد اعظم بومسلم په خط په امر د اسد خان لیکلی شوی او بیا ملا عبدالحلیم نامی حاشیه پر لیکلی او مشکلات ئې حل کړی دی.

دا نسخه په ترتیب کی له نورو سره سمه ده، د لیکلو ځای ئې ندی معلوم، په املا کی هم له نورو قلمی نسخو څخه فرق نلری، د ځنو لغاتو په حل کی موږ له دغی نسخی څخه کومک اخستی، او حواله مو ورته کړی ده، دا نسخه څلویښت کاله پسله وفاته د خان لیکلی شوې ده.

(۲) دوهمه قلمی نسخه په تصرف د ع،ج، ا،ا نښان محمد گل خان وزیر صاحب داخله ده چه ډیره خوشخطه او صحت ته نیژدې ده، دا نسخه په قندهار کی لیکلی شوې ده، اما د لیکلو کال او لیکونکی ئې ندی معلوم. ډیر زواید هم لری، په خط او املا او ترتیب کی له نورو قلمی نسخو فرق نلری.

(۳) دریمه نسخه په تصرف د پښتانه فاضل جناب مولوی ابو الوفاء صاحب قندهاری ده، چه موږ ته ئې له حیدر آباد دکن را ولیږله، دا نسخه که څه هم په خط کی تر نورو پاته ده، اما ډیر زواید لری او اکثر بیتونه ئې په نورؤ کی نشته، او بشپړ ښکاره کیږی، د دې کتاب قطعات په غره د شعبان۱۱۷۰ کال ، او رباعیات ئی په ۷۲ د ذیقعده ۱۱۷۱ کال او غزلیات ئی په ۷ د ذیقعده ۱۱۷۱ کال او قصاید ئی په ۲٤ د شعبان ۱۱۷۰ هجری کال لیکل شوی دی، د کتاب لیکونکی ندی معلوم، مگر د شاهجهان پور په ښار کی لیکل شوی دی، او دا ښکاره کیږی چه کاتب ئی په پښتو نه پوهیدی، محض ئې نقل اخیستی دی، ولی چه ډیر ځایونه سهو او خطا لری.

(٤) څلورمه نسخه په تصرف د جناب حاجی احمد علی خان هوتک د قندهار وه، چه خورا خوشخطه او صحیح وه، ترتیب او لیک او املا ئې لکه نوری قلمی نسخی هغسی دی، فرق نه سره لری د کتاب د لیکلو کال او کاتب ئې ندی معلوم.

# تشکر

دلته به بی وړه نه وی، چه موږ له دغو محترمو پښتنو څخه چه خپلی قلمی نسخې ئې د نقل او مقابلې او سمون دپاره موږ ته را لیږلی دی، تشکر وکړو، او دا دوی کومک په احیاء کی د دې اثر، د پښتنوالی او پښتو غوښتو له پلوه د خوښۍ او تشکر په سترگه ووینؤ، چه د دې کتاب په نشر کی دوی لو برخه لری.

# د کتاب ټوکونه

د خوشحال خان کلیات په اصلو قلمی نسخو کی هم څلور ټوکه دی، موږ هم پر هغه اساس سم چاپ کی لکه له فهرسته څخه چه څرگندیږی، لمړی ټوک ئې غزلیات دی، دوهم ټوک قصائد دی، دریم ټوک رباعیات او څلورم ټوک قطعات او متفرقات دی.

# تعداد او زوائد

په دغه کتاب کی د ډکټر ډبلیو بییو انگلیس تر چاپی نسخه ٤٨ بدلی، او ٢٠٧ رباعیات او ٥ قصائد او مجموعاً ټوله ١٤٠٠ بیتونه تر چاپی نسخه زیات له قلمی نسخو څخه را نقل شوی دی. له دغه جهته نو موږ دا ویلای شو، چه دا نسخه بشپړه ده، او تر اوسه د خان کلام په دغه بشپړتیا چا ندی نشر کړی او نوری ټوله نسخې علاوه پر غلطئ او اړولو د اصلی الفاظو لږ او کمی هم دی. او دغه نسخه له هره حیثه بشپړه گڼله کیږی.

# غلطنامه

ځنی سهوی او غلطئ چه په مطبع کی پیښی شوی دی، په پای کی د کتاب ئې موږ غلطنامه هم ترتیب کړې ده، پښتانه به لمړی کتاب د علطنامی له رویه سم کړی، بیا به ئې نو ولولی.

# ځنی گران کلمات

د کتاب ځنی گران لغات او کلمات موږ حتی المقدور حل کړه، او حاشیه مو پر ولیکله، د ع،ج، وزیر صاحب داخله سیند او د جناب راحت اللّٰه زاخیلی پښتو لغات، او د پښتو مرکې د قاموس یوه برخه چه زموږ څخه شته، او زموږ خپل له لغوی پښتو یاداشتونو څخه، خلاصه په هره توگه چه کوم لغت حل کیدی، ترجمه مو ورته وکیله.
سره د دغه هم ځنی بیتونه او ځنی کلمات دغسی حل طلب پاته شوه، چه بیتو ته مو (ح) لیکلی ده او په پای کی د کتاب مو یو د نادره لغاتو جدول هم زیاتی کی، او هغه لغت چه دَکتاب په ټولو مخو کی راغلی دی، موږ ئې مخ وښووی، او د حل طلبو لغاتو ترجمه مو پښتنو ته پریښووه، گُندی پښتانه دا ابیات او لغات حل کړی، او په دوهمه طبع کی بیا ترجمه ورسره ولیکی. هیله لرم، چه پښتانه له دې قصوره ما معاف کاندی.

# د کتاب املا او رسم الخط

تر اوسه چه ما د خوشحال خان یاد د ده د کورنئ د ادباؤ قلمی دیوانونه لیدلی، ټوله په متحد رسم الخط او املا لیکلی شوی دی، داسی ښکاره کیږی، چه په هغه وخت کی دغه املا مروجه وه، دوی د پښتو مخصوص حروف داسی لیکلی دی:

ټ = ط مثلاً ټول = طول
څ = چ څوک = چوک
ځ = ج ځما = جما
ډ = دُ ډیر = دُیر
ړ = رُ زړه = زرُه
ڼ = نُ رڼا = رنُا

علاوه پر دی د (ښ) او (ږ) حروف لکه پارسی (ش) او (ژ) لیکی او د کاف او گاف فرق هم نه کوی، د خوشحال خان ټوله قلمی دواوین او د عبدالقادر خان او علی خان او کاظم خان او اشرف خان هجری، چه ټوله له خان پښته دی، دیوانونه ئې ټوله په دغه املا لیکل شوی دی او رسم الخط د ټولو هم پارسی نستعلیق دی نه عربی، علاوه پر دغه د کتاب د املا په خصوص دا لاندینی ملاحظات وگوری:

(۱) ئې چه ضمیر د غایب دی، په همزه بې ټکو لیکل شوی او (ې) یعنی هستی چه له افعال ناقصه څخه ده مخاطب مخصوص دی په ټکو بې همزه لیکل شوی دی، مگر په ځنو ځایو کی د مطبعی خطا په سبب د دغه کلمې سره گډ شوی دی. ځکه چه له موقع څخه ښکاره کیږی، نو به گُندی ویونکو ته اشکال نه پیښوی، په نورو ځایو کی د دې دوو کلمو د شکل تمیز شوی دی (ئی، یی ).

(۲) مفغن کلمات ټوله په پښتو املا او مفغنو حروفو لیکل شوی دی، لکه کمیس، کیسه، وخت او نور، چه په پیړیو پیړیو پښتنو دغه کلمات پخپله ژبه کی را اړولی دی، او په قلمی نسخو کی هم دغسی لیک دی.

(۳) کلمه د کی د پښتو له ظرفی کلماتو څخه ده. په ټولو قلمی نسخو کی په یاء (کښی) لیکلی ده، مگر اوس بی یاء مروجه ده، نو په هغه ځای کی چه قافیه نه ورانیده، موږ کښ بی یاء ولیکله، او د یاء په قافیه کی مو مجبوراً کښی د یاء سره ولیکل، چه ترتیب ئی وران نشی.

(٤) ځنی کلمات په اختلاف د محاورو لږ څه تغییر کوی، یا ئې املا ډیر فرق نه کوی، نو ئې املا پر یوه ډول نده راغلی. مثلاً گوته، گته، څو، سو، جنځی، چمجی، ورڅه، وروځه، رویبار، ریبار، توکی، توگی، ځکه چه دواړه محاورې ئې صحیحی دی، نو زما په عقیده دا اختلاف دَ املا ئې هم پروا نلری.

(۵) کلمه د خپور کله کله پر جلا محاوره برابر (خور) لیکلی او جمع ئې خواره راغلی ده چه له موقعه ښکاره کیږی، ځکه چه خور دوی معناوی لری او مودر د اشتباه لویږی، نو موږ ئې املا خپور غوره کړه. که کوم ځای خور لیکل شوی وی، تصحیح دی وشی. دغسی هم سپور په معنا د سوار کله کله سهواً سور لیکلی ده ځکه چه د سپور کلمه غوره ده، نو ئې پښتانه تصحیح وکړی، ښه به وی! ولی چه سپور وضعی، او سور تقریباً د مفغن شکل لری. دغسی هم کلمه د زر یعنی زور که څه هم د خټکو محاوره ده مگر په ځنو ځایو کی چه اشتباه پیښیده، موږ ئې د قندهار محاوره ژر ولیکه چه محل د اشتباه نه وُ، هلته زر هم راغلې ده.

# خوشحال خان خټک څوک وُ؟

خوشحال خان زوی د شهباز خان زوی د یحیی خان زوی د ملک اکوړی زوی د درویش محمد (مشهور په چنځو) زوی د تمن (اتمان) زوی د حسن زوی د شیخ علی زوی د عطا (هوتی) زوی د پټی زوی د اتو زوی د برگویټ زوی د تری زوی د تورمان زوی د لقمان (مشهور په خټک) زوی د برهان زوی د ککی زوی د کرلاڼ، چه د خټکو په روایت د کرلاڼ (کرړان) پلار هونی نومیدی، او هونی د سربڼ څخه بولی، ځینی مورخین ئې د عبدالله اورمړ زوی کښی.[۱]

خوشحال خان په کرلاڼو کی یو صحیح النسب پښتون دی، چه د پلار او نیکه څخه د خټکو مشر او خان وُ، د ده پنځم نیکه ملک چنجو د مغولی اکبر پاچا په عصر کی (۹٦۳ـ۱۰۱٤هـ) په پښتنواله مشهور وُ، ملک اکوړی د ده زوی

۱. تاریخ مرصع، حیات افغانی، خورشید جهان، مخزن افغانی، مرآة الافاغنه.

هم لکه پلار یو نومیالی پښتون ؤ، چه د اکبر پاچا او د مغولو د امپراطوری له خوا د خپل قوم او د دغه ځای د پښتنو ملی مشر گڼل کیدی. او د کابل د لاری ساتنه په ده اړه درلوده، ده سرای ودان کی، چه اکوړه ئې هم بولی، تر ده وروسته یحیی خان او بیا ئې لمسی شهباز خان د شاه جهان په عصر کی د پښتنو مشهور سردار، او نامتو خان ؤ [1] چه د مغولو تر امپراطوری لاندی یو امیر او د پښتنو مشر گڼل کیدی.

# تولد

د جهانگیر مغلی پاچا په عصر کی ( ۱۰۱۴ـ۱۰۳۷هـ) چه شهباز خان د (۲۲) کالو ؤ، د ده په کور په اکوړه کی په ربیع الثانی د ۱۰۲۲ هـ کال سم له ۱۶۱۳ع کال خوشحال خان وزیږیدی، چه وروسته نو دا سړی یو نامتو پښتون او غیور سردار شو، او په دنیا کی د پښتوالی او د پښتنو د ادب ئې یو لوړ نوم پریښود.

# ملی مشر خوشحال خان

د خوشحال خان پلار شهباز خان خټک په ۱۰۵۰ هـ کال چه عمر ئی پنځوس کاله ؤ په یوه جنگ کی د یوسف زو ټپی او په پنجشنبې اول د شوال وفات شو.[2] د پلار تر مرگ وروسته د خوشحال خان دری نور کوچنی ورونه وه، جمیل بیگ، شمشیر خان، میر باز خان، مگر دی د مشرتوب له پلوه د قوم په خانی او سرداری وټاکل شو، او ټوله اولس په مشرتوب ومانه. شاه جهان مغولی پاچا هم دی د پښتنو خان کی، او د مشرتوب فرمان د ده په نوم له دهلی څخه صادر شو.[3] شاه جهان د خوشحال خان قدر او احترام په ښه ډول کاوه، او په مغولی دربار کی ئې ډیر نفوذ او اقتدار درلود.[4] د اجمیر په جنگ کی چه د تاراگډهـ کوټ هیڅ چا نسوای فتح کولای، توریالی خوشحال خان دا کوټ مات کړ، او په لاهور کی د شاه جهان له حضوره څلور لکو روپی انعام ورکړه شو، او د دوونیم لکو روپو پټی ور وبخښل شو. [5]

خوشحال خان که څه هم د مغولی دربار تر اثر لاندی ؤ، او د مغولی پاچهانو په اطاعت ئې ځان مکلف گاڼه، مگر ده د خپل قوم په منځ کی بشپړ استقلال درلود او د مغول مریی توب ئې هیڅکله د خپل قوم دپاره نه خوښاوه، شاه جهان هم فقط د پښتنو آرامی غنیمت گڼله او د دوی داخلی آزادی ئې نه ور ورانول، خان پخپله وائی:

| | |
|---|---|
| د هغه دور پاچا ؤ | قدردان شاه جهان |
| د پلار ځای ئې و ما راکړ | په اولس شوم حکمران |
| که د توری که د ورکړی | هیڅ می پری نسو ارمان |
| واړه دیرش زره خټک دی | درست زما دی په فرمان |
| درست خټک ځما په دور | نامور سو په دوران |

مگر تر شاه جهان دورسته چه د ده زوی اورنگزیب عالمگیر خپل پلار بندی کړ او نور ورونه ئې یا مړه یا مغلوب کړه، او په ۱۰۶۹هـ کی پاچا شو، ده د خپل پلار طرفداران او درباریان ټوله ورکول، نو خوشحال خان خټک د پښتنو ملی مشر هم چه د شاه جهان له ملگرو او مقربانو څخه ؤ، او اورنگزیب بیریدی، چه مبادا دی به د شاه جهان د خلاصۍ کوښښ وکی، نو ئې وغوښته چه پښتانه مخذول کړی او خان هم ورک کړی.

پښتانه خو طبعاً آزادی غوښتونکی دی، او بل چا ته سر نه کښته کوی، او پر خپل استقلال مین دی، خاص بیا

---

۱. حیات افغانی.

۲. سن د هجر زر پنځوس ؤ – چه شهید شو شهباز خان

۳. تاریخ مرصع او اسلامی دائرة المعارف.

۴. د ۱۷ قرن اشرار د سی،ای بیډولف انگلیس.

۵. حیات افغانی.

خوشحال خان چه یو صحیح پښتون سردار ؤ، نو اورنګزیب خو دی په قوت سره نشوای ماتولای، له دغه جهته ئې دروه او ټيټال ورسره وکړ او خان ئې په غوږه ژبه او احترام خپل دربار ته وغوښت، له بلې خوا ئې د ده خپلوان هم د خانۍ او منصب په ژمنه او رشوتو او روپو وغولول، چه خان د پاچا دربار دهلی ته ور واستوی، خوشحال خان که څه هم ډير پوه او تجربه کار سړی ؤ، مگر د پاچا په عهد او قول او د خپلوانو په اصرار وغولیدی، او یوازی پيښور ته ولاړ. د پيښور حاکم د مغولی دربار په نغوته دی بندی کړ، او تحت الحفظ ئې دهلی ته واستاوه، خوشحال خان د روژی په منځ کی د ۱۰۷٤ کال دهلی ته ورسیدی او دا د پښتونخوا د بڼ خوشنوا بلبل، هلته د مغولو په بندکی تر څلورو کالو پوری بندی پاته شو، که څه هم د ده قوم په اتفاق د ده د خلاصی دپاره ودریدل، او غوښته ئې چه مسلح حرکت په دې باب کی وکی، مگر خان دوی منع کړل، او له جنگه ئې وگرزول.

خوشحال خان خپل د بند حوادث په یوه حبس نامه کی، چه (۲۲۰) بیته ده، ویلی دی او پخپل بندکی ئې د وطن په بیلتون کی ډیری سوځونکی نارې او غلبلې وهلی دی:

د هواد یاران می هر زمان یادیږی　　　چه ئې مخ په خوب کی ووینم وویاړم

خوشحال خان څلورکاله په دهلی او رنتهبورکی بندی ؤ، وروسته نو ایله شو اما هره ورځ به دربار ته حاضریدی، او د وطن د تگ اجازت ئې نه درلود، په دغه حال کی داسی شکوه کوی (٤ د رجب ۱۰۷۷هـ)

هره ورځ ورتله دربار ته　　　گوره دا څه مشقت دی

د بل حکم پری زندان شی　　　چه پر خپل حکم عادت دی

نه شیرین خواږه یاران شته　　　نه د چا سره صحبت دی

په پای کی خوشحال خان په آگره کی په ملگری د خپلو خپلوانو فرصت وموندی او خپل وطن ته راغی، دلته نو بیرته خپل قوم پر ده را ټول شو، او په وارو وارو ئې د مغلو سره سخت او لوی جنگونه وکړل، او د پښتنوالی هوډ ئې تر سره کړی. او پښتانه ئې د خپلی آزادۍ د ساتنې دپاره د مغلولو په مخ کی ولاړ کړه، مگر د یوې خوا د هند د دربار رشوتونه او روپۍ او د بلې خوا د خان د زامنو او حپلوانو نفاق دی وکار ته نه پریښود:

زه غلیم د اورنگ زیب یم　　　سر په غره په بیابان

زه په ننگ د پښتانه یم　　　دوی نیولی مغولان

مغولیه دربار ډیر مبالغ د پښتنو د بی اتفاقۍ او د خان د ناکامۍ دپاره وشیندل، او د خان زامن ئې له ده څخه پر خلاف کړه، خوشحال خان غوښته چه دوی د پښتو ننگه او هوډ پر ځای کړی، مگر دوی د مغولی دربار په رشوتو او روپو له ده سره ملگری نه کوله، او پخپله عیاشی بُخت وه، له دغه سببه نو خان پخپل کلام کی هر ځای د دوی له لاسه شکوه کوی:

زویو می خوی د ختکو نورکړ　　　ځما په نقش یی پوری اورکړ

وخت دگټنی د نام و ننگ ؤ　　　بدو زامنو را څخه خپورکړ

خوشحال خان په دغه وخت کی چه د مغولو قوا د ده په بیرته نیولو بُخت وه هری خوا ته د دوی په مقابل کی سفرونه او تبلیغونه کړی دی، څو چه په پای کی اورنګزیب پخپله ناچار شو، د ده مقابلی ته را ووت:

اورنګزیب پاچا زړه ډک په لاهور راغی　　　گوره کانده به څوک وران څوک به ودان شی

خوشحال خان تقریباً دوه کاله د مغولو امپراطورۍ سره د مړانی مقابله وکړه، دوه کاله پخپله اورنګزیب د اټک پر غاړه ورته پروت ؤ:

اورنګزیب راته یو کال وشو چه پروت دی　　　په صورت حیران پریشان په زړه افگار

په پای کی چه د مغولو پاچا، په قوه د پښتنو له ماتولو څخه عاجز شو، نو ئې د روپو په زور پښتانه سره بیل کړه، او د خان زامن او خپلوان ئې پر ده را ولاړ کړه:

خزانی د هندوستان دی را خوری شوې　　　سره مهران دی ننوزی په کوهسار

خوشحال خان هر ځای له خپلوانو او زامنو څخه شکوه کوی، او د مغولو دکامیابۍ او بری ذریعه هم دوی گڼی:

په بل غشی بل ټوپک ویشتلی نه یم　　　که ویشتلی یم خو بیا پخپل ټوپک یم

د خوشحال خان سوانح ټوله په مشقت او تکلیف لړلی دی، د مغولی دربار د رقابت او میرځۍ تاب په هغه وخت کی بې له دغسی میړه او ټینگ پښتونه بل چا نه درلود، د اورنګزیب حکم د آمو له غاړی تر بحر هند پوری جاری ؤ، او د

مغولو د جهانګیرۍ حرص او شهوت د پښتنو آزادی هم محو کوله، او نې غوښته چه دغه سپیڅلی او غیور قوم پخپلو غرو کې آزاد وی، نو ئې د خان و زوی بهرام ته د خانۍ تطمیع ورکی، چه خان ګرفتار کړی.

خوشحال چه اوس نو سپین ږیری او زوړ شوی ؤ، خپل مشر زوی اشرف خان متخلص په هجری ئې د قوم خان کړ. مګر بهرام خان اشرف خان ونیولی او په ۱۰۳۹هـ کی ئې د مغولو په لاس ورکړ چه لس کاله په بیجاپور کی بندی ؤ، او آخر هم هورې مړ شو. [۱]

دلته نو بهرام خان د مغولو د لښکرو په قوت وغوښته چه خپل پلار ونیسی، سره د دغه چه خان خورا زوړ او د ۷۷ کالو ؤ مګر ګرفتار ئې نه کړ، او افریدی ته څنی ولاړ[۲] او انزوا ئې غوره کړه، په ادبی ژوندون کی ئې د کتاب او قلم په ملګری د خپل حیات اواخر تیرول، او د پښتنو په لویو غرو کی ئې د ادب او علم په رڼا ژوندون کاوه:

پسله بند دی دا عزم — د خوشحال د خاطر جزم
یا نیولی مخ مکې ته — یا مغولو سره رزم
یا یو کنج د غره نیولی — نمونځ روژه د لوستو بزم

# عالم خوشحال خان

خوشحال خان په کوچنیواله کی د خپلی زمانی مروج علوم ټوله ویلی وه، د ده له کلامه ښه ښکاره کیږی، چه ده اسلامی علوم لکه فقه، حدیث، نفسیر، او نور عقلی او فلسفی علوم لکه منطق، حکمت او ادبی علومونه او د فصاحت وا بلاغت اصول لکه معانی، بیان، عروض، قافیه او نور ټوله ویلی او عالم ؤ.

خوشحال خان سنی مذهب مسلمان او حنفی ؤ، دی وائی:

د مذهب څښتن څلور دی پنځه ندی — حنفی، سنی مذهب د دین په کار یم

خوشحال خان په هر کار کی د اسلامی شریعت پیرو ؤ، او د خرافاتو او مزخرفاتو چه په دین ګډ شوی دی، مخالف ؤ، او هر کله ئې په دغه لار کی ښوونه او تبلیغ کاوه:

هر چه شرع فرمائی په هغه کار کړه — مه عمل کوه په رسم په دودونه

علاوه پر دې خان په تصوف او روحانی خوا کی معلومات لری چه په نورو مخو کی بې تفصیل وشی.

# شاعر او ادیب خوشحال خان

**پښتو شعر تر خان دمخه:**

هغه وخت چه خوشحال خان په دنیا کی د ادب او پښتو ژبی ته یو مخلد او جاوید خدمت کاوه په دغه وخت کی د پښتو ژبی ادب ډیر محدود ؤ، د پښتو د ادب د ژوندون تاریخ دری برخی لری:

(۱) لمړۍ دوره خو له ابتداء څخه بیا تر نهم هجری قرن پوری ده، چه په هغه کی د مغولو او په ایران کی د صفوی کورنۍ پاچهی وه، تر دغه دمخه د پښتو اشعار ټوله طبیعی او غیر مصنوعی وه، او هغه سندری او نارې وې چه د طبیعت تر اثر لاندی به پښتنو ویلې، د اتڼ نارې، لنډۍ، سپرې بدلی، او نور اقسام چه اوس هم شته، د دغه عصر ادبی آثار دی.

(۲) دوهمه دوره چه د مغولی بابر او د هند د پښتنو پاچهانو لودینانو له آخره عصره څخه (۹۳۰ هـ) بیا تر سنه (۱۰۰۰هـ) پوری را رسیږی، دغه اویا یا اتیا کاله د پښتو شعر نیم مصنوعی دی، یعنی نه پوره پر زاړه حال طبیعی دی، او نه پوره د صنعت او عروض او قافیه تر اثر لاندی شوی دی، په دغه دوره کی ډیر ادبا، او لیکونکی شته، لکه اخوند درویزه

---

۱. هجری لوی ادیب دی. دی وایی:
بیجاپور هجری په خوب لیدلی نه ؤ آخر پیښ شی هغه مار چه ئی قضا کا

۲. تاریخ مرصع.

د ننګرهار، شیخ مالی یوسف زی، اخوند قاسم، ملا الف هوتک، کریم داد، بایزید (پیر روشن) چه د دغو ټولو آثار نه پوره عروضی اشعار دی، او نه پوره طبیعی.

(۳) دریمه دوره د پوره عروضی او مصنوعی اشعارو ده، چه پښتنو ادیبانو خپل شعر پر عروض او قافیه او فنونو د بلاغت برابر ویلی دی، او له دغه عصره څخه چه اوس دری نیم سوه کاله کیږی، د پښتو اشعارو عروضی دوره شروع شوی ده. په دغه دوره کی تر خوشحال خان دمخه میرزا خان انصاری، او ارزانۍ او دولت، او واصل او قلندر تیر شوی دی، چه خان ئې پخپله ذکر کوی:

د میرزا دیوان می ومانهٔ په ګوډی — مسخره می ارزانی خویشکی زمند کړ

# خوشحال خان د ادبی مکتب مؤسس

تر خوشحال خان دمخه که څه هم ځو تنو عروضی اشعار ویلی دی، مګر هغه خدمت چه خان پښتو ته کړی دی، او په دغه اندازه ډیر اشعار چه ده ویلی، او پرې ښی دی، له نورو څخه نه دی لیدل شوی، د ده اشعار تقریباً څلویښت زره بیته ته رسیږی. هغه انقلاب چه ده د پښتو ژبی شعر ته ورکړی دی، نو دی هر کله په حیث د موسس او پلار د پښتو شعر منل کیږی، تر ده وروسته چه ټوله ادبا راغلی دی په فکر او ډول کی ئې دی مقتدا دی، د ده له نسله څخه نور مقتدر ادیبان هم پیدا شوی دی، چه موږ بې پر خپل موقع ذکر کړو.

شعر او شاعری خو د انسان په خټه اخښلی شویده، او ادب د انسانیت یو لوی او مهم جز دی، لکه ارسطو د یونان فیلسوف چه ادب د فطرت محاکات او نقل د انسانی تأثراتو بولی، دغسی هم د پښتو ادب ټوله پر دغه علمی کلیه باندی بنا شوی دی خاص بیا د خوشحال خان ادبیات او آثار ټوله حاکی له هغو ذهنی تأثراتو څخه دی چه ماحول او محیط د ده په زړه کی کرله. دی د فطرت ترجمان او د طبیعت ویونکې ژبه ده، هر څه چه وینی، هغه په ښه ډول په وینا تصویر کولای شی!

خوشحال خان په هر راض شعر کی قوی لاس لری، عشقی، اجتماعی، فلسفی، وطنی، اخلاقی او حماسی اشعار ډیر لری، د انسانی فضائلو او د پښتونوالی د ښیګړو په بیان کی خوشحال خان یو پوره مورالیسټ (اخلاقی) او ریالیسټ (حقیقی) ادیب دی، په نقد او ادبی شجاعت کی هم ساری نلری، اما په دنیا کی د ده خیالیت او ایدیالیزم هم دومره جګ دی، چه لږ څه نور څوک پسی رسیدلای شی!

خوشحال خان مؤسس د هغه ادبی مکتب دی، چه وروسته ټولو د پښتو ویونکو او ژبه ورو خلقو د ده تقلید کړی دی، دی د خپل سبک استاد دی، نو ځکه موږ ده ته د پښتو پلار ویلای شو:

ما خوشحال چه په پښتو شعر بیان کړ — د پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شی

موازنه او مقایسه:

د پښتو شعر که څه هم په ډیرو شیانو او خواصو کی د پارسی او عربی اشعارو سره نزدیوالی او قرب لری، مګر بیا هم ځکه چه محیط او د قوم ذهنی او روحی خواص پر ادب اثر لری، نو د خان په کلام کی د پښتونوالی ډیر مزایا لیدل کیږی، خان یو مبتکر پښتون دی، د ده فکر په دنیا کی د ادب یوازی مقلد نه دی، بلکه له ځانه هم مضمون را ایستلای شی، د دی خبری اثبات دَ ده د کلام مطالعه کوی، مګر دلته موږ لنډه اشاره ورته کوو.

د عشق دنیا او د مینی نړۍ یوه بیله دنیا ده، د عاشق قلبی واردات او د ده تأثرات پر بل چا نه قیاسیږی، مګر ملی خواص او اولسی ممیزات هر کله په دغه دنیا کی هم اوښاریږی، او لکه چه ادب د روحی تجلیاتو هنداره ده، دغسی ټوله ملی ښیګړی پکښی بریښی!

پښتانه خو په فطرت کی ملی غرور او د روح لوړتیا لری، پښتون هیڅکله او په هیڅ ډول داسی خضوع نه کوی، چه د ده ملی غرور ته دی صدمه ورسیږی.

شبلی نعمانی په شعرالعجم کی لیکی، چه نسبت و پارسی شعر ته په عربی شعر کی شاعر هر ځای عزت د نفس او غرور ساتی، مین که څه هم و خپل محبوب ته اړ وی او وصال ئې غواړی، مګر دی دګدا په څیر نه دی، البته جانباز دی،

مگر غلام نه دی، و مصیبت ته د مینی تیار دی، مگر ذلیل ندی.

مثلا یو عرب ادیب خپلی مینی ته داسی خطاب کوی:

فلا تحسبی انی تَخَشعت بعدکم     وَلا اِننِی با لمشِی فی القیدِ اَخرقُ

یعنی: دا گمان مه کوه، چه زه په تا پسی خاشع شوم، او نه په بند سره زه له یو نه پاتیږم [1]

بل ځای عاشق و خپلی مینی ته داسی وائی، چه ضمناً د خپل قوم میړانه او توریالی توب ورښکاره کوی:

اذا اَسوَدّ جنحُ اللَیلِ فلتاتِ و لتکُن     خُطاکَ خفافاً فان حَرّ اسنا اُسدُ [2]

(عمر ابن ابی ربیعه)

یعنی: چه ماښام د شپی وزر تور شی، نو راشه، مگر پلونه ورو ورو ږده چه زموږ ساتونکی زمری دی!

مگر په پارسی ادب کی، عاشق د مینی په دنیا کی ځان دومره بایلی او بې خوده کیږی، او د معشوق په مخ کی ځان دومره کښته کوی، چه ځان سپی هم بولی:

سحر امدم بکویت بشکار رفته بودی     تو که سگ نبرده بودی به چه کار رفته بودی

حافظ وائی:

شنیده ام که سگان را قلاده می بندی     چرا بگرن حافظ نمی نهی رسنی

د پښتو شعر که څه هم له یوې خوا شدیداً د پارسی تر اثر لاندی شوی دی، او ادباؤ هر کله دغسی خیالات او افکار ذکر کړی دی، مگر بیا هم ځای ځای د پښتنوالی د روح لوړتیا ئې په کلام کی ښکاره کیږی! او پښتون عاشق هیڅکله ځان نه سپکوی، او خپل غرور او د نفس مناعت نه بایلی، په هغو ځایو کی چه د نورو په تقلید څه ویل شوی دی، داسی اشعار بیل دی!

د خوشحال خان په کلام کی د پښتنوالی لوړ او ژوندی روح ښه ځلیږی. مثلاً په دې بیت کی د ځان لوړتیا په څه ښه ژبه محبوب ته ښئی:

مرگ لره ئې واړه د دهلی لښکر راغلی     ته لا د خوشحال په مرگ ځان روغ نه گڼې ننگ کړی

سر بازی او توریالی توب په عشق کی هم د ده سره ملگری دی، او کورټ د ذلت او تحقیر کار نه منی:

یا به سر د خپل ورمیږ په وینو رنگ کړم     یا به کښل کړم دغه ستا شونډی ملوکی!

یا:

مگر تا څخه سامان د سلطنت دی!     چه په هوډ می سپینه خوله غواړې خټکه

یا:

په درست جهان به نه وی یو ما غندی رسوا بل     ورځم توره وکښلی چه مین واروم په تا بل

د پښتو عشق هم ښکاره او سپیڅلی دی، پټ پټانه نلری، په نره توره مینه کوی، د عشق په دنیا کی خو مین او معشوق ډیر د راز ساتنه او پټول خوښ لری، او نه غواړی چه څوک په خبر شی:

ز شوق میروم و سوی تو ننگرم در بزم     برای انکه فتد غیر در گمان دگر

عاشق له بیری د اغیارو او رقیبانو، د خپل محبوب حال هم په ښکاره نه پوښتی:

بهر مجلس که جا سازم حدیث نیکوان پرسم     که صرف آن مه نا مهربان را در میان پرسم

مگر د پښتنوالی په دنیا کی دا پټ پټانی نشته، د پښتون مینه او میرڅی رڼه ښه ده، خوشحال خان هم وائی:

زه خوشحال کمزوری نه یم چه به ډار کړم     په ښکاره نارې وهم چه خوله ئې راکړه

د خوشحال د عشق میثاق داسی ټینگ دی:

که ئې سر درومی له تنه، نور به نشی     دَ خوشحال چه د خپل یار سره میثاق دی

خلاصه: د خوشحال خان په کلام کی هر ځای د پښتنوالی روح ښکاره ده، هغه چه په تقلید د بل چا ویلی شوی دی، بیل دی.

که می حلق له تندی وچ شی په همت کی     پروادار کله په حوض د کوثر یم

---

۱. شعرالعجم ج ۵.

۲. معنی اللبیب.

نور د ده پښتنی ادبی مزایا، د پښتونوالی او حماست په بیان کی وګوری.
په دغه ډول د خوشحال خان کلام معنوی او مادی مزایا لری، خاص بیا په علومو د فصاحت او بلاغت پوه دی، اسرار د بیان ور معلوم دی.

## صنعت او ابتکار:

د خوشحال خان په کلام کی علاوه پر نورو ښیګڼو، او معنوی خواوُ، ظاهری بدایع او صنایع هم شته، د شعر ټوله اقسام لکه غزل، قصیده، مثنوی، رباعی، قطعه، تخمیس، تسدیس، ترجیع، او نور لکه حماسه، رثاء لری، معشر او مربع اشعار د ده ابتکار دی، چه په پښتو کی ئې ویلی دی.
شعری صنعتونه او بدایع ئې په کلام کی خورا ډیر دی، بدله د ذوالقافیتین مع الحاجب فن دی، په دغه ډول ذوقافیتین اشعار ډیر لری، په دی بیتو کی صنعت د طباق را وستلی دی:

ښه چه سپین د زهد لیری له ما ګرزی / چه و تورو ته نژدی شی سپین هم تور کا
ته ښادی کړه زه به غم کړم / تا خندا زده ما ژړا زده
یو وصال د ښو یارانو بل هجران دی / چه خوشحال ئې په خندا په ژړا کړی

په دغه آخرنی بیت کی صنعت د لف او نشر مرتب هم شته، په تجنیس کی هم خان ښه لاس لری لکه:

دوې دی توری سترګی لکه دوې توری بلا / دوې دی توری ورځی لکه دوې توری تر ملا
هغه کار لکه دوه توری سترګو وکا / هسی کار نشی په تورو په لښکر
چا به راکړه په پالنګ دا هسی کیلې / که می نه وی په ازل په قسمت کیلې

د خان په کلام کی صنعت د ذولسانین هم ډیر راغلی دی، پښتو او پارسی او هندی ګډ وډ سره وائی. په رباعی کی صنعت د درو ټکو کلمو دی، او په دی رباعی کی صنعت د لزوم د متصل الحروف او تجنیس مراعات شوی دی:

ښی چین چین څښی پښتنی جنی / په شین شین ځی شین جنی
نن نغتی نشی تشی پښتنې / تشی پښتنې فتنی شی ځنی

دغسی هم د کتاب د پای په مخو کی صنعتونه د رقطا او غیر منقوط او نور راغلی دی. خوشحال خان پر ادا د نریو نریو خیالو او تازه افکارو غښتلی دی، ډیر ځله داسی مضامین وائی، چه بالکل نوی وی، ابتکار د ده د کلام ګینه ده مثلاً په دی یوه بیت کی ده یو جهان ابتکار او ډیر مضمون ځای کړی دی.
د عشق په دنیا کی ماښی، او د محبوب خوابدی دومره یو مبتذل او مستعمل مضمون دی چه هر شاعر څه پکښی ویلی دی، محبوب چه خوابدی سی البته پر مین باندی ستم کوی، مگر د مین زړه چه هغه پرهارونه غواړی، هغه لا نه مومی، ځکه چه د مینی پرهار تر هر څه خوږ او خوښ دی:

خویش را بر نوک مژگان ستم کیشان زدم / آن قدر زخمی که دل میخواست در خنجر نبود

د عشق دنیا عجیبه نړۍ ده، ترخه پکښی خواږه کیږی، او زهر پکښی ګنی ښکاره کیږی، ښکنځل خو ترخه دی، مگر د عشق په دنیا کیی بل خوند لری.

دشنام دهی و بر لب تو / روح القدس آفرین نویسد

خلاصه چه په عشق کی د ماښی د دنیا واردات خورا ډول ډول او راز راز دی، خوشحال خان په دغه یوه بیت کی اعجاز کوی:

په ماښی ئې مرده شویو کره عید وی / په خندا ئې جوهری کره ژړا وی

لمړی خو په دغه بیت کی صنعت د طباق او تضاد شته، د ماښی، اختر، خندا، ژړا تلازم ډیر خوږ دی، مطلب خو دا دی، چه د عشق وژلی او د محبوب د ماښی مقتولان خورا ډیر وی ولی چه مقتولان ډیر شی، البته مرده شوی خوښیږی، او په خندا خو مرغلرۍ له خولی څخه را تووی، نو چه مرغلرۍ ډیری شی، البته وړیا کیږی او د جوهری او مرغلرۍ والا بازار کوټه کیږی، د کلام یوه لو برخه ساقطه ده، مگر مطلب ښه روښانه او اوڅار دی.
دا قدرت د بیان او په عین وخت کی فوقالعاده بلاغت د خان د کلام له خصوصیاتو څخه دی. په دې رباعی کی چه ابتکار شوی دی هم خورا خوږ دی:

چه آئینی ته ښکاره دیدار کړې | آئینه درسته سره گلزار کړې
چه شونډې کیږدې د جام په مورگو | اوبه په جام کی رُب انار کړې

### د فکر قهرمان:

د شاعر او ادیب نظر تر نورو رسا دی، هغه چه شاعر ئې وینی هر څوک ئې نه وینی. په پسرلی چه سره او زرغونه گلان له مځکی څخه را ووزی، وگړی خو دا گلان د ننداری او خوند په سترگه وینی، نشاط او خوښی ځنی مومی، مگر شاعر عبرت ځنی اخلی، او گوری چه دا خاوره چه نن گلان ځنی غوړیږی، پرون د کوم انسان د بدن خاوره وه! او دا فکر په شاعری کی خورا زوړ دی، هر چا څه پر ویلی دی، ابوالعلاء معری (٤٤٩هـ) د عربی مشهور فیلسوف ژبه ور وائی:

خفف الوطاء ما اظن ادیم ال | ارض الامن هذه الا جساد
و قبیح بنا و ان قدم العهد | و هوان الا باء والا جداد

یعنی: قدمونه پر مځکه ورو ورو ږده، ولی چه دا مځکه زموږ د نیکونو بدنونو او اجساد دی.
د ادباؤ تر منځ توارد او د فکر توافق دی، عمر خیام بلخی هم دغه مضمون ښه ویلی دی:

هر سبزه که بر کنار جوئی رسته است | گوئی زلب فرشته روئی رسته است
تا بر لب سبزه پا به خواری ننهی | کان سبزه ز خاک لاله روئی رسته است

سعدی هم وائی چه یوه ورځ می تر بنځ پر مځکه ووهله، داږغ ځنی راغی:

که ز نهار اگر مردی اهسته تر | که چشم و بنا گوش و روی است و سر

د هندوستان مشهور ادیب غالب دهلوی هم دا مضمون داسی وائی:

سب کہاں کچھ لاله و گل نمایاں ہو گئیں | خاک میں کیا صورتیں ہونگی که پنہاں ہو گئیں

یعنی په خاورو کی چه کښلی بدنونه پټ شوی دی، له هغو څخه لږ اوس د غاټوی په شکل را وتلی دی.
د خوشحال خان زوی عبدالقادر خټک هم دا مضمون په پښتو داسی ویلی دی:

قدم په ورو ورو په احتیاط ږده | چه توری خاوری کښلی مخونه دی

مگر خوشحال خان په فکر کی مبتکر دی، دا زوړ فکر ده په نوی ډول اما خورا خوږ ادا کړی دی، چه زما په عقیده تر ټولو ادباؤ اوړی، که د نقد په سترگه ورته وگورو، البته دا ښکاره به شی، خان وائی:

چه هونبره ښه مخونه په دا خاورو کی په گور دی | چه د یو لره ور دروم گور و ما وته ارم دی

وگوری مضمون هغه مبتذل او زوړ مضمون دی، مگر د پښتانه فکری ابتکار خو د نورو تقلید نه منی، خان هغه مضمون په داسی ډول ادا کی چه ساری نه لری!
نو خوشحال خان لکه د توری او د میدان قهرمان چه دی، دغسی د فکر او ادب قهرمان هم دی، که د خبرو له اوږدوالی څخه نه بیریدای، پر دغه موضوع به مو اوږده څیړنه کړی وای، مگر اوس په دغه قدر اکتفا کوو.

## نقاد خوشحال خان

نقد د ادب یو مهم ټوک دی، د نوی دنیا په اصطلاح ادب بی له نقد هیڅ قیمت نلری بلکه موثر او گټه زیږونکی ادب هغه دی، چه د نقد په گینه ښکلی وی.
پوهان وائی: چه ادباء او شعراء پخپلو ادبیاتو او نارو او غلبلو سره ملتونه ویښوی حال ئې ور اړوی، او د لوړتیا پر خوا ئې بیائی، رشتیا هم داده، ځکه تر هغو چه یو اولس پخپله کښته والی پوه نشی، او خپل عیوب او گوډی ورانی ور ښکاره نشی، تر هغو په اصلاح کی بری نشی میندلی، ځکه نو نقد په ادب کی هم هغه موقع لری، لکه په اجتماع کی چه ئې میندلی دی. په دې باره کی د لویانو او تیرو میړو څخه ډیر اقوال او د گټی ډکی ویناوی شته، قولوا الحق و لوعلی انفسکم نبوی حدیث شریف دی، چه دغه اساس ته نو په نوی ژبه ادبی شجاعت وائی. خوشحال خان خو په نقد کی زیږه او قوی ژبه لری، خاص بیا د پښتنو معایب او ځنی بد خویونه په غندنه سره یادوی، او هر ځای زیار کاږی، چه دوی پخپلو عیبونو وپوهوی او د اصلاح خوا ته ئې راولی، د ده د نقد ژبه تیره ده، پخپله وائی:

ځما ژبه نه ده اور ده　　　　گزارونه د ټوپک کا

خوشحال خان لکه د توری میړه چه دی، قلم ئې هم په نقد کی د توری کار ورکوی او توریالی قلم ښائی چه دغسی وی:

آفرین دی په ویلو شه خوشحاله　　　　چه د توری رژول کړې په قلم کی

خوشحال خان هر کله د پښتو پر تیر عظمت چه  د اسیا د یوې لوئی برخی شاهنشاهان وه، افسوس کوی او  هغه په خورا حسرت یادوی، قوم ویښوی، او دوی د زاړه عظمت پر تحصیل گماری:

که رشتیا وایم شیر شاه دا هسی نه ؤ　　　　لکه موږ یو نه پیدا له کوهستانه

پښتانه چه بې ننگی کا څوک ئې څه کا　　　　گورستان لره به درومو له ارمانه

د خټکو د نفاق له ناپوهیه　　　　یا چه غم لرم له خپله خاندانه

چا ته وایم څه به کښم څه هونبره ندی　　　　چه تمام شی له مذکوره له بیانه

په نورو ځایو کی هم پر خپل قوم سخت تنقیدونه کوی.

# اخلاقی خوشحال خان

د خُلق په تعریف او د اخلاقو په خصوص کی د بشریت د پوهانو فکرونه مختلف او ډول ډول دی، چه موږ دلته لنډه اشاره ورته کوو، د انسانانو په زړو آثارو او هغو کتابو کی چه اوس نو تر هغه زاړه کتابونه انسان ته نه دی پاته، مثلا د هند په ریگ وید، او د زردښت په اوستا، او بیا په تورات شریف او د چین د کنفوسیوس او د بودا او نورو ټولو زړو آثارو کی اخلاق او د اخلاقو ښه ذکر شوی دی.

که څه هم اخلاقیات د فلسفې یو مهم ټوک دی، مگر داسی ښکاره کیږی، چه پر اخلاقی مسایلو تر فلسفیانه بحث دمخه هم په انسان کی اخلاقی احساس ؤ، په ساده ژبه د اخلاقو تعریف داسی کیږی "سړی به څنگه عمل او څنگه ژوندون کوی؟"

د انسان افعال تر مختلفو مؤثراتو او محرکاتو لاندی دی، محیط، ارث، تربیه، دودونه، رسوم، دا ټول پر اعمالو اثر کوی. نو اخلاق د عملی ژوندون دپاره ځنی قواعد او ضوابط دی. [1]

په یونان کی د پوهانو نظریات د اخلاقو په باب کی یا دا وه چه اخلاق ټوله پر ذوق او خوند بنا دی،٤٠٠ کاله تر میلاد دمخه ارسټیپس پر خوند د اخلاقو سټه ایښی وه، تر ده وروسته نورو ملگرو یا شاگردانو لکه اپیکور (٣٤٢ـ٢٧١ق،م) د ده نظریه تعدیل کړه، مگر یوه بله ډله چه د دوی مشر سقراط (٤٧٠ـ٤٠٠ق،م) او وروسته نو افلاطون (٤٢٧ـ٣٤٧ق،م) او بیا ارسطو (٣٨٤ـ٣٢٢ق،م) غندی نامتو پوهان په دغه ډله کی دی، دوی هغه اخلاقی نظریه واړوله او وې ویل چه زموږ په اعمالو او خواهشو کی مطلب زموږ سعادت دی، او سعادت هم په ښو اخلاقو اړه لری، ښه اخلاق په پوهنه (معرفت) سره میندل کیږی، سقراط اجتماعی سعادت تر شخصی سعادت دمخه کوی، افلاطون له سقراط سره په دی نظریه کی چه پوهنه د ښو اخلاقو سټه ده ملگری دی، او سعادت او ښه اخلاق هم غبرگولی سره بولی، ارسطو هم سعادت خیراعظم گڼی. [2]

رواقیون (چه د یونان د فلاسفه ؤ یوه ډله ده) پخپله فضیلت بالذات مقصد او غرض گڼی، چه په زیار سره ئې انسان میندلای شی، خلاصه د اخلاقو پر اصل د پوهانو آراء مختلف دی، مگر دغه خبره چه آیا اخلاق اکتسابی دی که ارثی هم تر څیړنه لاندی ده او پوهان ډول ډول اراء پکی لری، سقراط د فضیلت اساس عقل گڼی، نه عادت او تربیت، مگر ارسطو وائی چه فضائل د عقل او حکمت په ښودنه تر ترتیب او مشق او پالنی لاندی موندل کیږی. [3] په اسلامی پوهانو کی شیخ

---

١. د دوکتور راپوپورټ مبادی فلسفه.

٢. تاریخ فلسفه د حنا اسعد.

٣. مبادی فلسفه.

محی الدین عربی (٥٦٠هـ) وائی چه خلق د نفس هغه حال دی، چه په انسان ټوله کارونه بی اختیاره کوی، خلق ځنی وخت غریزی وی او کله کله په ریاضت او زیار مینده کیږی.[۱] د اسلام بل اخلاقی فیلسوف ابو علی ابن مسکویه هم عیناً د ابن عربی ملګری دی، دی خیر هغه شی بولی چه انسان د خپل ژوندون مقاصد په حاصلوی، یا ئې په تکمیل کوی، دی د ښو اخلاقو په فطرت او اکتسابیت کی جلا رأیه لری، وائی: چه ځنی خلق فطرتاً او په ختګه کی فضیلت لری، ځنی بیا فطرتاً بد خُلقه وی، ځنی داسی وی چه نه ښه وی، نه بد، دغسی سړی نو په روزنه او تربیت او عادت سره ښه کیدلای شی [۲] د ابن مسکویه دا نظریه هغه ده، چه جالینوس یونانی فیلسوف ئې هم دمخه ملګری وُ [۳] اوس نو دا خبره هم څیړنه غواړی، چه آیا د انسان په ختګه او سرشت کی ښه اخلاق اخښلی دی که بد؟

زیوس یونانی رواقی فیلسوف (۳۰۰ ق،م) ښه اخلاق طبیعی او بد خوی کسبی ګڼی، دی وائی انسان د ښو اخلاقو سره زیږی، بد اخلاق وروسته مومی.[٤] حضرت امام ابو حامد غزالی (٤٥٠ـ٥٠٥هـ) چه د اسلام یو اخلاقی فیلسوف او عارف دی هم وائی چه د سړی زړه یوه روڼه هنداره ده، او د بدو اخلاقو لوګی پر کښینی، حضرت غزالی په دی فلسفه کی یو حدیث شریف هم راوړی چه "اتبع الحسنة السیة لیمحیها" یعنی په هر بد پسی ښه کوی، چه هغه وزدویی [٥] حضرت امام د اخلاقو د ښیګړی دپاره زیار او عادت او جهاد لازم ګڼی، او بد خویونه اکتسابی ګڼی، چه قابل د اصلاح دی. [٦]

مګر بالعکس شیخ محی الدین ابن عربی د دې طرفدار دی، چه بد اخلاق د انسان پر طبیعت غالب دی، او په جبلت کی ئی بد اخلاق ور اخښلی دی. [۷]

تر دی پوهانو وروسته د اروپا فلاسفه او مفکرین هم په دغه موضوع کی متضاد افکار لری، ژون لوک (۱٦۳۳ـ۱۷۰۳ع) د معرفت د نظریې خاوند وائی: چه انسان له هر معنوی او ارثی اثره څخه پاک زیږی، د ده طبع یوه پاکه هنداره ده وروسته په تربیه هر څه قبولوی، تر ده وروسته روسو د فرانسه نامتو فیلسوف (۱۷۱۲ـ۱۷۷۸م) هم د ده ملګری دی.[۸] د سیکولوژی علماء او ځنی نور فلاسفه لکه برکلی (۱٦۸٤ـ۱۷٥۳ع) او د ده ملګری خُلق د طبائعو مزاوجت او د نفس د خصائصو د نښتو نتیجه بولی، چه د خارجی عواملو تر اثر لاندی دی، چه دوی هم ګویا د روسو د فکر ملګری دی اما مالبرانش (۱٦۳۸ـ۱۷۱٥ع) فرانسوی فیلسوف وائی: چه ټوله ښه یا بد اخلاق د انسان سره یو ځای زیږی، نفس هیڅ نوی شی په ده کی نشی زیاتی کولای.[۹] کانت (۱۷۲٤ـ۱۸۰٤ع) او د ده ملګری لکه فخته (۱۷٦۲ـ۱۸۱٤ع) هیګل (۱۷۷۰ـ۱۸۳۱ع) د اخلاقو په اړولؤ قائل نه دی، او وائی چه د اخلاقو د اصلاح دپاره د نسل او د ټولو انسانانو اصلاح ضرور ده، ګانت یو (اصلی صورت) فرض کړی دی چه هغه نو فطریات او غرائز دی، چه د انسان د دماغی او عصبی ساختمان تابع دی. [۱۰]

شوپنهاور (۱۷۸۸ـ۱۸٦۰ع) چه د متشائمینو فیلسوفانو مشر دی، هم د اخلاقو په تغییر قائل ندی، مګر وروستنی هغه فلاسفه چه د پداګوژی یعنی علم تربیت پوهان دی، لکه هربرت سپنسر (۱۸٦۰ع) نیتشه (۱۸٤٤ـ۱۹۰۰ع) او نور د اخلاقو د اصلاح دپاره د روزنی د علم طرفداران دی، سپنسر وائی: د زمانو اوږدوالی، او د خارجی قواؤ، تضیقات په اخلاقو کی تحول اچوی، چه اجتماعی فلاسفه هم په دغه قائل دی.

---

۱. فلسفة الاخلاق.

۲. د ټ، ج ډوبوئر د اسلام د فلسفی تاریخ.

۳. علم تربیه د نوبخت.

٤. علم تربیه.

٥. احیاء العلوم.

٦. کیمیای سعادت.

۷. فلسفه الا خلاق خ ۷.

۸. د کابل مجله ص۷۰٤ ج ٦.

۹. علم تربیه ص ۳۱.

۱۰. دا عربی بیت هم دغه عقیده ښی:
و ما هذه الاخلاق الا طبائعُ – فمنهن محمود و منهن مذموم.

## اسلامی اخلاقی نظریه:

اوس چه موږ د دنیا د پوهانو اخلاقي نظریات لږ څه ذکر کړه، را به سو چه زموږ مقدس دین څه فرمایي؟

اسلام خو د اخلاقو بشپړ کونکی دی، لکه چه حدیث شریف دی: انما بعثتُ لأُتمم مکارم الاخلاق یعنی زه د اخلاقو د بشپړ والی دپاره راغلی یم.[1] د اخلاقو بشپړوالي او تکمیل خو په دی صورت کی ممکن دی:

(۱) هغه اخلاق چه په ژوندون کی لازم دی، که په یوه قوم کی له دغو څخه ځنی لږ وی نو چه هغه وومی دا نو تکمیل دی.

(۲) دوهم دا دی چه کوم خلق په یوه اندازه سره لازم وی، مگر په کوم قوم کی تر هغی اندازې ډیر وی، چه هغه ډیروالی ئې لږ سی، دا نو تکمیل دی.

(۳) دریم دا دی، چه په یوه قوم کی د ژوندون لازمی اخلاق نه وی، نو چه دغه پکښی موجود شی، تکمیل ورته وایی.

اوس نو وگورو چه اسلام څنگه د اخلاقو تکمیل کړی دی:

(الف) اسلام چه دنیا ته راغی، په انسانانو کی بد او ښه اخلاق گډ وډ وه، ځنی اخلاق تر اندازه ډیر او ځنی تر خپله ټکانه لږ وه او ځنی ښه خویونه کورټ نه وه، نو د دې دپاره اسلام هغه خویونه چه په اندازه کی ډیر وه لږ ئې کړه، او هغه چه لږ وه حد وسط ته ئې راوسته او ځنی اخلاقی لوازم چه نه وه، هغه ئې بشریت ته تبلیغ کړه، د اسلام اخلاقی اساس خو اعتدال دی، چه ټوله فطری قوا په اعتدال سره استعمال شی، دا اعتدال چه د اخلاقو د فلسفی اصطلاح ده، د شریعت او قرآن عظیم په ژبه صراط مستقیم ورته وائی، چه په ډیر آیاتو کی د قرآن عظیم ستایلی شوی دی (والذین ذاانفقوا لم یسر فوا و لم یقتروا وکان بین ذلک قواماً) یعنی د خدای مریی هغه دی چه په خرڅ کی اسراف او تنگی نه کوی، بلکه منځنی رفتار کوی.

په دې ډول اسلام خپله اخلاقی نظریه ټینگه کړه، او د انسانانو د اخلاقو د ښه کولو دپاره په تبلیغ او ښوونه او تربیت قائل دی، اسلام وائی، چه هر انسان د ښه او بد د تمیز دپاره نفس لوامه لری، او پخپل ځان خبر دی،[2] یعنی د بدو په کړن کی نفس لوامه سړی ملامتوی، حضرت رسول ﷺ په یوه حدیث شریف کی فرمائی: (البر حسن الخلق والاثم ماحاک فی صدرک و کرهت ان یطلع علیه الناس). یعنی: ښیگړه ښه خوی دی، او گناه هغه ده چه ته خو ښه نلری، چه نور دی په خبر شی. د دې اخلاقی نظریې طرفداران په فلاسفه وو کی هم ډیر دی، د علم الاخلاق په اصطلاح دغه اخلاقی پټ ضمیر، یعنی نفس لوامه، وجدان یا اخلاقی حاسه بولی، اسلام دغه د فطرت نقاده قوه ټینگوی، او په تبلیغ او ښوونه ئې په خلقو کی کری، وروسته نو د دغی قوې ټینگار په یوه بله ذریعه کوی، هغه نو احتساب دی، چه په اصولو د تلقین د علم النفس پر ډول سم، د نفس لوامه او وجدان تقویه او ملگری کوی، ځکه نو تبلیغ او امر په معروف د اسلام یو مهم جز دی، یا مرون بالمعروف و ینهون عن المنکر و یسارعون فی الخیرات (الآیه).

## د خوشحال تربیوی او اخلاقی نظریه:

خوشحال خان د انسان فطرت او خټه و هر څه ته مستعده بولی، او د انسان د لوړتیا او سړی توب دپاره روزنه ضرور گڼی، دی وائی، چه انسان هم کښته کیدای او هم لوړیدای شی او د فطرت هر راز ارتقاء ته مستعد دی:

| | |
|---|---|
| دا سړی چه فرشته دی هم شیطان دی | که سړی و خپل عمل ته نگران شی |
| یو په بد عمل کی ځی تحت الثرا ته | بل په ښه عمل کی پاسه په اسمان شی |

په دې دوو بیتو کی ئې د انسان د فطرت دوه پلو وښودل، وروسته نو خپله تربیوی نظریه داسی څرگندوی:

| | |
|---|---|
| تربیت که د باغوان له لاسه مومی | په هر ځای باندی گلونه د بوستان شی |
| هر استاد سره چه کښیني یو څو ورځی | د هغه هنر په ده کی نمایان شی |
| د نیکانو په صحبت کی به ښه کیږی | اولیا له اولیا نه راعیان شی |

---

۱. احیاء علوم الدین.

۲. بل الانسان علی نفسه بصیره و لوالقی معاذیره (الآیه).

د مغلو سره کښیناسته مغل شه د افغان سره که کښینې نو افغان شې
د خوشحال سره که کښینې یو څو کاله دا د غره خټک به واړه شاعران شې

خوشحاال خان وائی که یو وار د سړی په بده تربیه سره بد خویونه په دماغ کی کښیناسته، بیا ئې بیول او لیرل کول هم گران کار دی:

که بد خوی په چا کی کښینې نور عادت شی عادت نه درومی له شخصه په تعذیر

په دې نظریه کی دَ ټینگار دَ اعتیاد چه گوستاو لوبون د فرانسه وروستنی فیلسوف ئې طبیعت ثانوی بولی، خوشحال خان کټ مټ لکه د اوسنۍ زمانی د علم النفس او د روزنی علما دغسی تفکر لری، اما په نظریه کی د وراثت او فطرت د اخلاقو هم لکه ځنی فلاسفه چه دمخه مو نظریات ذکر کړه، خان صاحب نظریات لری، او په بدیهی الفاظو او ښکاره تمثیلاتو خپله نظریه تمثیل کوی:

چه وودلې وی په ذات توره شړۍ سپینول ئې و هر چا وته دِ شاق

یا:

د عسل سره ئې خوره خوږه به نشی مړغونې چه ترخه ده په میثاق

یا:

که کارگه غندی ئې فهم وی خوشحاله هیڅ استاد به شین طوطا نکړی ناطق

دا نظریات گټ مټ د اوسنیو لویو علماؤ او د روزونی د علم د پوهانو لکه ویلیام جیمس د امریکا او نورو نظریات دی، زموږ په مشرقی پوهانو کی هم اکثره پوهان خاص بیا سعدی، په ډیرو ځایو کی د دې نظرې سیله کړې ده.

د خوشحال خان اخلاقی نظریات عیناً هغه نظریات دی، چه اسلام ئې لری، د انسان د فطرت انحطاط او ارتقاء قرآن عظیم په دې ژبه ښئی (لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم، ثمه رددناه اسفل السافلین) دا خو د انسان هغه لوړ توب او کښته والی دی چه خوشحال خان ئې په لوړو بیتو کی له مشکوة آلهی څخه اقتباس کړی دی، وروسته نو په (الا الذین آمنوا و علموالصالحات) کی چه د نبوت د تربیت نتائج دی، بیا د روزنی او پالنی گټی ښه ښکاره دی. خان پخپله اخلاقی او تربیوی فلسفه کی دغسی د خپل دین او قرآن استفاده او استفاضه کړیده، او په دې ژبه د اسمانی اسرار او فیوض بیانوی:

چه ظلوم جهول یادیږی، کنتُ کنزاً هم پوهیږی ته وداته نظر مگړه چه دا عوښی استخوان یی

ځکه چه خان په دنیا کی د اخلاقو د تبلیغ او تربیت په گټو پوه دی، نو دی هر کله پخپل کلام کی د ښو خویونو تبلیغ او د بدو خویونو تقبیح کوی. او په ډول ډول اخلاقی مضامین لری، چه تاسی بې په دې کتاب کی هر ځای خاص بیا په رباعیاتو او قطعاتو کی وگوری.

# فلسفی خوشحال خان

فلسفه خو د انسان د ذهنی ارتقاء سره یو ځای پیدا شوې ده. او د فلسفې خاوندان له ابتدا څخه تر اوسه پوری په بشر کی د لوړ مقام څښتنان دی.

په شاعری کی خو هم فلسفه له ابتدا څخه گډه وه، بلکه فلسفه د ادب روح دی، او فلسفی افکار د ټولو ملتو په شاعری کی شته. فلسفه خو د شیانو د حقائقو درک دیکماهی، او پیژندنه د هغو شیانو ده چه په عقل او خارجی حواسو اړه لری [١] د فلسفې لمړی حد د علومو مینه او منځ ئې حتی المقدور د موجوداتو حقائقو پیژندنه ده او پای ئې علم او عمل دی [٢] ځکه چه شعر هم د طبیعت ترجمانی، او د فطرت او ضمیر ږغ دی، او د شیانو په حقیقت کی تفکر هم د انسان په خټه اخښلی دی نو شعر او فلسفه پر یوه نقطه تقاطع کوی.

د مشرق ډیر شعراء او ویونکی سړی فلسفی افکار هم لری، په پارسی کی د سعدی، حافظ، بیدل، خیام، او ابن یمین او نورو کلام د فلسفې څخه ډک دی. په عربی کی هم د اموی او عباسی دور ویونکی په شعر فلسفه گډوی، لکه ابوالعلا،

---

١. زبدة الصحائف.
٢. اخوان الصفاج ا ص 32.

او احظل، مهیار، بشارا او نور. د پښتو شعر هم په فلسفه کی د پارسی او عربی سره نیژدیوالی لری، شعراء ډیر ځله فلسفی افکار په خپلو ویناوُ کی ښکاره کوی، د خوشحال خان اخلاقی او تربیوی فلسفه خو موږ دمخه وښودله، اوس به نو د مثال په ډول د ده ځنی فلسفی افکار هم ښکاره کړو.

معنوی فلسفه:

لکه د اخلاقو په بحث کی چه وښودل شوه، د بشر د پوهانو ډلی پخپلو افکارو کی سره بیلی دی، ذوقیون د بشریت ټوله ژوندون او مصالح پر خوند باندی بنا کوی، مادیون د ظواهرو پر خوا دی، مگر خان خو په فلسفه کی د هغه تفکر طرفدار دی، چه انسان یوازی دغه ظواهر او خوند نه بولی، بلکه ځنی معنوی او روحی خواص او مزایا هم ورته ثابت بولی، دوی وایی: ښائی چه انسان په دې ظاهری شیانو کی پاته نشی، او باطن صفا کړی، او لرونکی د معنویت شی ولی چه په دغو ظاهری اکثرو شیانو کی اساس ئې ذوق دی حیوان هم د انسان سره شریک دی، حال دا چه انسان خو انسان دی، او حیوان نه دی!

خوشحال خان دغه فلسفه چه د بشر اکثر پوهان ئې مبلغ دی، ډیره بیانوی، د ده په کلام کی هر ځای و حقائقو او معنویاتو ته بلنه شته، او یوازی ظواهر د بشریت دپاره لازم نه گڼی مثلا وائی:

| | |
|---|---|
| د سړی قدر قیمت په اعتبار دی | چه خواږه ورځنی لاړل گنی کاه شی |

خوشحال خان وایی: دا د دنیا خوندونه او لذتونه ټوله فانی دی، د فانی او بی پایه شی غوښتنه پوهی نده، ځکه نو انسان ته د معنویاتو پلټنه ضرور ده:

| | |
|---|---|
| اورنگزیب چه آرایش د تخت و تاج کا | تخت و تاج به ئې مرگی تاخت و تاراج کا |
| په جهان کی به ئې پاتو ښه بد نوم شی | ده زده چاری د کسرا که د حجاج کا؟ |

## حیرت:

فلسفه خو د حقایقو پر درک بنا شویی ده، او فیلسوف هغه څوک دی، چه د دغه کاره سره مینه لری، مگر که تاسی ټوله د دنیا فلسفه وپلټی او د پوه خاوندان وپوښتی، هیڅوک د حقیقت په درک کماهی ندی کامیاب شوی! پوهان وائی: چه د پوهی پای حیرت دی، سقراط هغه وخت پوه شو، چه پخپل ناپوهی وپوهیدی، د دنیا لوی لوی فلاسفه په پای کی پخپله ناپوهه او عجز قائل شوی دی، امام فخرالدین رازی د خپل عمر په پای کی وائی، (معلوم شد که هیچ معلوم نشد) بوعلی سینا وائی:

| | |
|---|---|
| دل گرچه درین بادیه بسیار شتافت | یک موی ندانست ولی موی شگافت |
| اندر دل من هزار خورشید بتافت | و آخر بکمال ذرۀ راه نیافت |

لامارک ویلی دی: چه زموږ ټوله علم تر دی نه زیاتیږی، چه موږ پخپل جهل اقرار وکړو، سپنسر د انگلیسانو فیلسوف هم داسی پخپله ناپوهی قائل دی: "د شیانو د حقائقو د پوښتنی په ځواب کی بیله دې څه نسوا ویلای، چه په هیڅ نه پوهیږو" خلاصه د حقائقو پلټنه و انسان ته مقدور نده، تر دې اندازې چه ځنی فلاسفه په لاادریت هم قائل دی، او د فلسفې پای دغه حیرت دی و بس.

| | |
|---|---|
| فن المحبته فماادق فنه | متحیر فیه امام الرازی |

خوشحال خان هم یو مفکر او پوه پښتون دی، دی عقل د ټولو حقائقو د پلټنی او تحقیق قابل نه بولی، او پر خلاف د عقلیونو خپله فلسفه داسی ښکاره کوی:

| | |
|---|---|
| مکره نادانه د نکړو کار دی | دا چه پرې خیژې غاښی دشوار دی |
| خرد کمزوری زبون لیده شی | چه دِ پریښی دا هونبره بار دی |

خوشحال چه هر څه په عقلی سیر کی زغرد شوی او خپله قوه ئې د فلسفې په لار کی صرفه کړې ده، په هیڅ ندی پوهیدلی او په حیرت کی ډوب دی، دی وائی:

| | |
|---|---|
| ما چه نظر وکړ په ذرات په موجودات | گول په جهان راغلم ترې به گول درومم هیهات |
| یو څادر تر میان وی فهم پاتو شی له کاره | دا هونبره کیسې هونبره ادراک د سماوات |
| هیڅ ولی نبی ئې درست اسرار موندلی نه دی | لویه کارخانه ده که وگورې کائنات |

حیرت خو په حقیقت کی د فلسفې پای او نتیجه ده، له سقراطه تر ابن سینا پوری ټوله و پاخه مقام ته د فلسفی په دغه ځای کی رسیدلی دی. خان د دغه حال په بیان کی څرګنده ویناوی لری، مثلاً وایی:

حیران یم نه پوهیږم چه زه څه یم څه به شم — له کومه یم راغلی بیا به کوم لوری ته ځم

جهان یو کټوری شو، زه په مثل د میږی یم — حیران پکی جاروزم لاس و پښې پکیی وهم

تر دی لا لوړ یو ګام ور هیسته خوشحال خان په فلسفی ژبه د دنیا حقیقت داسی ښکاره کوی:

دنیا وته چه ګورم کاروبار ته دو ګړی — دَ اوړکیو تماشی دی زه ئې هم ورسره کړم

## د ژوندون فلسفه:

د ژوندون اسرار خو کماهی چا نه دی موندلی، او د فیسلوفانو د پلټنی پای لکه لوړ چه مو وویل، دغه حیرت او نا پوهی ده، مګر د ژوندون د تیرولو او ډول په باب کی هم پوهان مختلف او ډول ډول آراء لری، که په لنډو الفاظو سره ووایو، فلاسفه په دغه موضوع کی دوې ډلی دی، لمړی هغه ډله ده، چه د نفی د خوا طرفداران دی، یعنی د ژوندون پر ځای ئې مړینه مد نظر ده، دوی د ژوندون د ترخو او مشکلاتو په مقابل کی تیښته کوی نه ټینګار، دا هغه مقام دی، چه زموږ په آشنا الفاظو بیخودی ورته وائی، دوهمه ډله هغه پوهام دی، چه په تنازع للبقا قائل دی، او دنیا د زیار او جهد میدان ګڼی، او وائی چه د انسان ښیګړه په دغه کی ده، چه د مادې په تسخیر کی تل جګړه او زیار وکړی.

د لمړی فکر سټه په زاړه یونان کی افلاطون او د ده ملګرو ایښی وه، او په اوس عصر کی دا فکر د قنوطی او متشائم پوهانو خاص بیا د بد لیدونکو مشر شوپنهاور له خوا په نوی ډول او نوې ګینه راوتلی دی.

د دوهم فکر سیله کونکی خو د یونان د یمقراطی او مادیون پوهان وه، چه په نوی دنیا کی کانت د دغه فکر روزونکی او نیتشه ئې په مقابل کی د نفی کونکو قنوطی پوهان خپرونکی دی، دا ډله د اثبات او جهدللبقا پر خوا دی، او نیتشه د ژوندون فلسفه د اقتدار پر غوښتنه بنا کوی، دَ انګلیسی ډاروین د نشو او ارتقاء فلسفه خو هم پر دغه اساس ټینګه ده، او د ژوندون دپاره جګړه د ده مادی فلسفی اساس دی "ته له دغه ځایه ولاړ سه چه زه دلته کښنیم" دا مسلک د خودی او ځان جانی طرفدار دی، او نن ورځ هم په دنیا کی دغه فلسفه پر مخ تللې ده، ملل هم لکه افراد، خپلواکی غواړی، او د بل چا اقتدار چه د خودئ نافی دی، له ځانه اړوی!

د المان قنوطی فیلسوف شوپنهاور وائی: چه ځان ځانی اصل او سټه د ټولو ناوریتونو او ویرونو ده، تر هغو چه سړی ځان د ژوندون مرکز ګڼی، راحت ته نشی رسیدلای دی وائی چه ژوندون او د ژوندون خواهش خو یو غم دی، نو تر هغو چه دغه خواهش ورک نشی، غم هم نه ورکیږی، نو په حقیقت کی غم ثابت او اصل دی، خوښی د غم له لړ والی څخه مینده کیږی، په شاعرانو او وینکو کی خو د دغه دواړو مسلکو طرفداران شته مثلاً ابو الفرج رونی وائی:

عنقای مغربست درین دشت خرمی — خاص از برای محنت و رنج است آدمی

فردوسی د دې بلی خوا عقاید داسی وائی، او جنګ اساس د حیات ګڼی:

اګر خود نزادی خردمند مرد — نبودی ورا روز ننګ و نبرد

حکیم سنایی دا میدان د تنازع للبقا په دې ډول عارفانه تنقید او تصویر کوی:

این جهان بر مثال مرداریست — کرګسان ګرد او هزار هزار

این مر آن را همی زند مخلب — آن مر این را همی زند منقار

که دې دوو فلسفو ته په غور وګورو، را ښکاره به شی، چه حقیقت په اعتدال کی دی او امر په قرار د اسلامی مسلک بین الامرین دی، د دې زمانی په پوهانو کی د هند مشهور ادیب او فیلسوف علامه اقبال چه د اروپا د فلسفی مکاتب ئې لوستی او یو محقق سړی دی، ده اسلامی د ژوندون فلسفه غوره کړی ده، چه اعتدال او صراط مستقیم دی، اسلام که څه هم له یوې خوا دنیا فانی ګڼی، او حب د دنیا د ټولو خطاؤ سر بولی، حب الدنیا رأس کل خطیة، اما په عین زمان کی مسلمانان په جد اوجهد سره هم امر کوی، ولی چه اساس د حیات دغه جهد دی، نو اسلام خو نه لکه مادیون یوازی دنیا د تنازع للبقا میدان بولی او نه لکه رهبانیون او قنوطیون د دنیا په نفی او ترک امر فرمایی، بلکه امر بین الامرین دی، او سعادت هم په اعتدال کی دی.

د دنیا ورانی خو لکه په رهبانیت کی چه ده دغسی هم په مادیت کی ده، رهبانی د جد او جهد میدان ته نه رائی، مادی تل پر دنیا سرې اتری ولاړ وی، د نن ورځی مدنیت ورانی چه پوهان وینی، هم د مادیت له افراطه څخه ده.

اسلام نه په رهبانیت او نفی انسان و کښته والی ته بیایی، چه لا رهبانیت فی الاسلام او نه ئې په دنیا کی داسی غوټه

کوی، چه پای ئې جگړه او ورانی شی، (اعدلوا فهوا قرب للتقوی). علامه اقبال دغه اسلامی فلسفه چه په حقیقت کی اساس د ټولو ښیگړو ده، په دې ډول په دوه بیته کی ښه ادا کوی:

تنی پیدا کن از مشت غباری — تنی محکم تر از سنگین حصاری

درون او دل درد آشنایی — چو جوئی در کنار کوهساری

زموږ پښتون فیلسوف خوشحال خان په دی باب کی خورا پخه فلسفه لری او نظریات ئې ډېر صائب دی، علامه اقبال خو د فلسفی دغه جگ مقام پسله ډېرو ویلو او لوستلو څخه میندلی دی، د برلین او لنډن د فلسفی مکاتب ئې غوښتی دی، وروسته نو د مشرق په ټولو فلسفو کی گرزیدلی دی، مگر زموږ پښتون نامتو سردار خو د پښتونوالی په فطانت او پوهی دغه حقیقت ښه لیدلی او ویلی دی! د پښتونخوا په لویو غرو کی ئې د یونان او عربو او اروپا د فلسفې لب لباب میندلی او ږغولی دی!

موږ به لاندی د ده مهم افکار په دغه موضوع کی د فلسفې لنډ لنډ وښیو، پسله دغه څخه به نو تاسی پخپله دې پښتون ته د یوه نامتو فلسفی او مفکر لقب ورکړی!

د خوشحال د ژوند فلسفه هغه د اعتدال فلسفه ده، چه د نبوت له مشکوة اقتباس شوې ده، ځکه خورا پخه او ټینگه ده!

شوپنهاور وائی: "اویا کاله کیږی، چه زه فکر وهم، اما بیله دې می بله نتیجه نده اخستې، چه انسان د دې دپاره دی، چه په ویر او ناورین کی به مری."

خان وائی:

خلق واړه دَ اندوه په دریاب ډوب دی — کله کله له دریابه به سر بلند کا

دا هغه فکر دی، چه ښادی او خوښی د ویر لږوالی بولی، خلق دَ ویر د دریاب څپو اخیستی دی، خوښ او مسرور خلق داسی دی لکه مغروق چه کله کله له اوبو سر را وباسی! بل ځای وائی:

ما پدا جهان کی غوښته مونده نشوه — که په بل جهان پیدا شی خرمی

چه په هیڅ ساعت خالی نه وی له غمه — مگر غم لره پیدا دی آدمی

بل ځای دا فلسفه په دی ژبه څرگندوی:

خواره حیرانه بنی آدمه! — چه دی خمیر دی خاوری له غمه

یو دم که وخاندې پدا دنیا کی — بیا دِ ژړا وی په څو څو دمه

خوشحال خان ویر د انسان په حتِه اخښلی گڼی، او په دغه نظریاتو سره دی د بد بینۍ او تشائم د مسلک ملگری دی، دی دا هم وائی، چه ویر د ژوندونه سره لازم دی، ځکه چه که ویر نه وی، خوښی به هم نه وی، د ترخو په سبب د خوږو قدر ښکاره کیږی.

به باغ کی خلق په میوه شخوند کا — په خوله کی هره میوه خپل خوند کا

ترخه هم ښه دی پدا جهان کی — د خوږو قدر ترخه څرگند کا

دا گویا د ده د نظرئې یو فلسفی او ظاهری تعلیل او برهان دی. دا خو د خان نظریات وه په غم کی، مگر سره د دې هم خان په دنیا کی د کار او عمل یو جاری روح لری، او د مادې دنیا د انسان دپاره د زیار او جهد یو ارت ډگر گڼی.

په دې ډول دی په بین الامرین قائل دی، په یوه خوا کی مفرط ندی، د ده حیات که څه هم په ډېرو آلامو لړلی او ډېر ناورینونه پر ورغلی دی، سره د دې هم د ده د جهد روح ندی مړ، او د نړۍ د څپو سره مېړانی مقابله کوی، له دغه بیته د ده د پښتونوالی عملی روح ښه ځلیږی:

د جهان غمونه ټوله پکی ځای شول — شکر دا چه زړه ئې لوی راکړ و ما هم

خوشحال خان د زمانی د حوادثو سیلۍ ته داسی دی لکه غر، چه هیڅکله نه ښوری او نه اثر پر کولای شی:

د عالم ډیری خبری لور په لور توری لښکری — زړه می نه خوځی له ځایه غر خو هسی وی که نه

د هر شاعر کلام د ده د اخلاقو او زړه او ده د نفسیاتو هنداره ده، فقط دغه یو بیت کافی دی، چه زموږ د فیلسوف او پښتون ادیب، د پښتونوالی ثبات او د زیار او جهد فلسفه دِ څرگنده کی، نو ئې لنډه دا ده، چه خان د ژوندون فلسفه یوازی غم او درد او نری والی نه بولی، او نه یوازی د تنازع او جگړې پر خوا دی، بلکه یوه معتدله فلسفه ئې غوره کړې ده چه و تحقیق ته نیژدې ده.

# صوفی خوشحال خان

د تصوف په تسمیه او اساس کی پوهان ډول ډول افکار لری، حضرت معروف کرخی ئې "د ربانی حقائقو تعقل" او قشیری ئې د "انتهائی حقیقت پوهنه" بولی[1]، په اصل کی خو متصوفانه افکار په ټولو زړو ملتو کی هم وه، د هند ویدانت او د نوی فلاطونیت د فلسفی افکار خو اکثر د تصوف سره سموالی لری. فلسفه او تصوف تر دې اندازې سره ګډ دی چه د تصوف نوم هم ځنی علماء له سوف مشتق او معرب ګڼی، ابو ریحان بیرونی (٤٤٠هـ وفات) لیکی:

"هذا رای السوفیة، و هم الحکماء، فان السوف بالیونانیه الحکمة و بهاسُمی الفیلسوف پیلاسوپا ای محب الحکمة و لماذهب فی الاسلام قوم الی قریب من رایهم سموا با سمهم..."[2]

حکیم عمر خیام بلخی وائی: چه اهل تصوف په تفکر او اندیښنه سره د معرفت غوښتنه کوی، د باطن تصفیه د اخلاقو تهذیب، د نفس ناطقه پاکی د طبیعت له تورکښو څخه کوی، چه دا لار د معرفت دپاره تر ټولو ښه ده،[3]حضرت امام غزالی رحمته الله علیه هم خپل وروستی تحقیق او سمه لار تصوف ګڼی![4] نو تصوف یو مسلک دی، چه اسلامی پوهان وائی، په قرآن عظیم کی چه هر ځای د کتاب سره لفظ د حکمت راغلی دی، مطلب پکی دغه پاک مسلک دی.[5]

په سوره بقره کی دی "و یعلمکم الکتاب و الحکمة" په حدیث شریف او سنت بنوی ( صلی ) کی چه د ایمان سره احسان ذکر شوی دی (لکه په صحیح بخاری ابواب الایمان) کی حضرت شاه ولی الله صاحب دهلوی محدث وائی، چه په احسان کی مطلب اسلامی تصوف دی.[6] ځنی پوهان تر ډیری پلټنی وروسته په دې قایل دی، چه تصوف پر دوه ډوله په مسلمانانو کی راغلی دی، یو فلسفیانه تصوف دی، چه د اسلام اکثر حکماء او پوهان په دغه ډله کی دی لکه ابن سینا، فارابی، خیام او د اخوان الصفا لیکونکی، چه د دوی فلسفه د اشراقیت او د نوی فلاطونیت له مدرسو څخه اخیسته شوی ده.[7]

دوهمه ډله د اسلامی او دینی تصوف والو ده، چه دغه ډله هم څه نه څه فلسفی افکار لری، مگر استفاضه او استفاده ئې له مشکوة د قرآن او سنت نبوی (صلی) ده، اسلامی عرفاء ټوله په دغه ډله کی شامل دی چه مشران ئې حضرت امام غزالی، شیخ مهی الدین عربی، حضرت ابن تیمیه، حضرت مولانای رومی (بلخی) او نور مشاهیر عرفاء او متصوفین دی.

په عربی او پارسی ادب کی خو د دغو دواړو مسلکو خاوندان لیدل کیږی او تصوف د پارسی ادب روح دی، شبلی نغمانی وائی، چه تر تصوف دمخه پارسی ادب یو خالی کالبت ؤ[8] لمړی حضرت سلطان ابو سعید (وفات٤٠٤هـ) بیا نو حضرت سنائی، او احدالدین کرمانی (وفات ٣٦ هـ) او حضرت شیخ عطار او مولانای رومی او نورو شاعرانو تصوف په پارسی ادب ګډ کی، چه تر اوسه پوری تصوف د ادبیاتو روح دی.

په پښتو ادبیاتو خو هم لمړئ ابتداء په تصوف شوې ده، د پښتو د شعر لمړی نشونما او ادبی ارتقا د مغلی اکبر پاچا له عصره شروع کیږی، په دغه وخت کی په هند او ایران کی د تصوف مسلک غالب ؤ، او د ننګرهار او اټک په پښتنو کی یو سړی ؤ، چه بازید بن عبدالله نومیدی، او اصلاً د قندهار له خوا او وروسته په اورمړ کی د کاڼی کورم میشته شو، دا سړی وروسته په پیر روښان مشهور شو او ډیر مریدان ئې ومیندل، د اکبر پاچا له صوبدار سره ئې سخت جنګونه وکړل، دا

---

١. د علامه اقبال فلسفۀ عجم ص١٠٩.
٢. کتاب الهندص ١٦لیدن.
٣. د خیام کلیات الوجود.
٤. وگوری المنقذ من الفلاول د حضرت امام غزالی ص٣٠.
٥. فلسفۀ عجم.
٦. وگوری حجة الله البالغه د حضرت شاه ولی الله دهلوی.
٧. وگوری کشف الظنون بیان د تصوف.
٨. شعر العجم ج ٥.

سړی یو کتاب هم لری، چه خیرالبیان ئې نوم دی، او اقوال ئې ټوله متصوفانه دی.[1] پیر روښان په هند او ایران او تورکستان کی ډیر سفرونه کړی وه، د ده عقائد و باطنیه او قوامطه ته مایل دی، او لکه اخوند درویزه چه لیکی، ده په پښتو په پارسی په هندی اشعار ویلی، او خپل افکار ئې پکی راوړی دی.[2] پیر روښان په پښتو او پښتو ادب کی افراطی او فلسفانه تصوف افکار داخل کړه، او اخوند درویزه هم د ده په مقابل کی مخزن الاسلام او ارشاد الطالبین او تذکرة الابرار کتابونه نشر کړل، د پیر روښان شاگردانو هم ټوله تصوف په پښتو کی داخل کړه، میرزا انصاری چه یوسفزی ؤ، یو کامل دیوان د تصوف په پښتو جوړ کړ[3] تر دوی وروسته نو تصوف هم د پښتو اشعارو، یو مهم ټوک شو، او ټولو شاعرانو پر دغه موضوع څه څه ویلی دی، لکه عبدالرحمن، حمید، عبدالعظیم، ارزانی او نور.

## د خوشحال خان تصوف

خوشحال خان په تصوف کی ښه ویل او خواږه اشعار لری، د ده تصوف اسلامی دی، که څه هم کله کله د فلسفی گرانی ویناوی، او غامض بحثونه هم کوی، مگر د افراط له خوا څخه ځان گواښی، خوشحال خان په طریقت کی د شیخ رحمکار مقلد دی، او ده د ده تصوف هم لکه چه له دغه مشغله رونییږی، دلته به موږ د خان ځنی متصوفانه افکار ولیکوُ:

د جمال مشاهده: د عرفان او تصوف په اساس کی د قدرت د جمال ننداره گڼه ده، عارف د دنیا مختلف مناظر گوری، او د هر یوه څخه د عرفان او تحقیق برخه ټولوی، په قرآن عظیم کی چه ډیر ځایونه د قدرت د آثارو د مشاهدی ارشاد شوی دی، دا ارشاد د هدایت ستړ ده و فی الارض آیاتٌ للموقنین و فی انفسکُم افلاتبصرون (الذاویات۲۰ـ۲۱) دا دنیا یوه ښکلی دنیا ده، هر شی یو نظام او تناسب لری، عارف چه هر شی وینی، د حقیقت نور پکی ځلیږی، او د جمال وړانگی ځنی غورځی، عارف له مصنوع د صانع د قدرت مشاهده کوی، او له دغی لاری لوړ مراتب مومی، سعدی وایی:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار　　　هر ورقش دفتریست معرفت کردگار

دا مسئله په تصوف کی دومره عامه ده، چه هر څوک په یو راز تعبیر په کوی:

زنده در عالم تصور همین نقاش است　　　خواب غفلت همه را برده و بیدار یکی است

دا هغه مقام دی چه په "اللّٰه نورالسموات و الارض" کی ذکر دی، صوفی د دغه نور په ننداره کی دومره محو کیږی، چه پای ئی حیرت دی ابن فارض وائی "زدنی بفرط الحب فیک تحیراً"! خوشحال خان په دغه موضوع کی ډیر دمخه دی، دی لکه صوفیه انسان عالم کبیر بولی، او د انسان دپاره د ځان پیژندنه معبود د معرفت گڼی، او په "من عرف نفسه فقد عرف ربه" قائل دی، دکتاب په لمړی بدله کی وگوری، خان د انسان د بدن عجائب یو یو ښئی، وروسته نو د معرفت فلسفه او د خپل تصوف ستړ پر ټینگوی او وائی:

هر ویښته چه په صورت باندی لیده شی　　　که پر ځیر شې د شناخت ور به درته واز کا
خاص بنده د خدای هغه گڼه خوشحاله　　　چه د ځان په معرفت ئې سر فراز کا

خوشحال خان د معرفت په دنیا کی بیله دغو ظاهری حواسو، چه د مادی خواص دی، یو بیل روح او بیل باطنی حواس هم منی، چه هغه نو د معرفت وړ بولی، چه په هغو سره حقایق درک کیږی:

عارفان د سر په سترگو گتُی کییږدی　　　د خپل زړه په سترگو گوری تماشا کا

دا دنیا د ننداری میدان دی، او له هری خوا د معرفت انوار اوری:

په هر لوری نو بهار دی غوړیدلی　　　سترگی وخوره چه به دا ننداره نکا

خوشحال خان د مصنوع له لیدو څخه د صانع قدرت منی، او په دې ډول استدلال کوی:

که دِ سترگی د عرفان شته مبارک شه　　　د گلزار په ننداره چه استقلال کړې
گل تَه هسی رنگ و بوی ورکړی چا دی　　　د لاله د گل چا هسی پاڼی لال کړې

د جمال په ننداره کی سړی حیرت ته ځی، او په پای کی له هر شی څخه د معرفت برخه اخلی:

چه و تورو خاورو هسی حسن ورکا　　　زه حیران پاتو په صنع د خالق یم

خان په دنیا کی تر مادی  قوت، روحانی واک مهم گڼی، او دا د تصوف فلسفه په داسی ژبه وائی:

---

۱. وگوری مخزن الاسلام د اخوند درویزه ننگرهاری.

۲. د پښتو شعر تاریخچه ص ۲۳،۲۴.

۳. ایچ، جی راورټی مقدمه د پښتو گرامر.

د صورت په زور قوت، غر نه ماتیږی		که خبر یی د ګوهکن په زور قوت
چه د روح قوت پیدا شی قمر شق کا		په هر لوری ئې په مخ درومی نصرت

په دې بیتو کی د خان د تصوف افکار ښه څرګند دی:

راشه وغړوه سترګی		د جهان ننداره ګوره
چه ښایست لری په ستوریو		د اسمان ننداره ګوره
د دې خپل وجود په باغ کی		په هر شان ننداره ګوره
چه هر ګل وته نظر کړې		د باغوان ننداره ګوره

وحدت:

وحدت د تصوف روح دی، صوفی لمړی د نفس تزکیه او تصفیه کوی وروسته نو له ماسوی الله څخه ځان ژغوری، په هره اندازه چه د ده دغه عزلت او لیری والی له ماسوی الله څخه ډیریږی هغومره د وحدت خوا ته نژدې کیږی، څو په پای کی په ټوله کائناتو کی بیله یوه (واحد) بل څه نه وینی، چه د نورو فنا راغله، نو د حق وجود پاته شی و بس. دا مقام په تصوف کی ډیر لوړ دی، صوفیان پکی ورک دی. منصور حلاج په دغه لار کی ځان بایلو، او حدی کرمانی وائی:

پس باش یقین که نیست والله		موجود حقیقی سوی الله

د وحدت مسئله په تصوف کی لمړی د شهود په ډول وه، وروسته  د وحدت الوجود په ډول شوه په دې بیت کی دا دواړه ډوله خلص تعبیر شوی دی:

هر چیز که نشان هستی دارد		یا پرتو روی اوست یا اوست ببین

خوشحال خان هم د تصوف د دغو خوږو څخه برخه لری، او هغه وخت چه حقیقی جمال په هره خوا کی وینی وائی:

که مسجد ګورې که دیر		واړه یو دی نشته غیر
یو می بیا موند په هر څه کی		چه می وکړ د زړه سیر
هغه ځای په سیر ګرزم		چه ترې نه رسیږی غیر
په احوال باندی یو دوه شی		ځکه نشته باندی خیر
خوشحال یو وینی خوشحال دی		ورته ورک دی غیر و زیر

د دنیا د پوهانو جدال، د فلاسفه وُ قیل و قال د حقیقت په لار کی ډیر دی، مادیون یوې خوا ته ځغلی، عقلیون بله لار اخلی، خوشحال خان دغه اختلاف د ناپوهۍ له پلوه ګڼی او وائی:

خلق نادیده دی په خبرو پسی ځغلی		ځار تر عارفانو چه په حال دی پوهیدلی
دو اویا مذهبه پکی هونبره قال و قیل		واړه سر هوا پخپل مطلب پسی دی تللی
واړه نور د لمر دی هم دننه هم دباندی		هر چرته دا نور دی په هر ښهر په هر کلی

په دې بیتو کی خوشحال خان د شیرازی حافظ هغه مشکل حل کړی دی، چه دو اویا ملته ئې ورک کړی دی:

جنګ هفتاد و دو ملت همه را عذر بند		چون ندیدند حقیقت ره افسانه زدند

دا حقیقت چه حافظ ئی ستایی، هغه حقیقت دی چه خوشحال خان ئې بیانوی (واړه نور د لمر) د عارفانو د عرفان پای دغه دی چه خان ویلی دی:

یار می هسی رنګ ځانی وکړه په سترګو		چه و هر لوری ته ګورم واړه دی دی

دا دی د ریاضت او تصوف او مجاهدې او سیر آخر ، چه یوه بل عارف هم ویلی دی:

در هر چه بنګرم تو پدیدار بودۀ		ای نا نموده رخ تو چه بسیار بودۀ؟

فنا:

فنا د تصوف مهم مقام او د سنګرؤ ډکه لاره ده، څو انسان دا لار پرې نه کی، د وحدت مقام ته نشی رسیدلای. شیخ عطا قدس سره وایی (التوحید اسقاط الاضافات) صوفیان د ځان فنا عین بقا بولی، او د  (مُوتُو اقبل ان تموتوا) مطلب هم دغه ګڼی، فنا په مجاهده سره موندله کیږی، او ډیر زیار غواړی، چه انسان تر خپلو ټولو طبیعی خواهشو تیر شی، خوشحال خان دا د تصوف مقام داسی ښی:

همیشه که ژوندون غواړې درته وایم		همیشه کوه د نفس سره جهاد

خان د وحدت د لاری سلوک تر هغو نه منی څو سړی نفی د ماسوی الله و نه کی:

بیا هاله د یګانګی له حاله لاف کړه          که د غیر اندیښنې له زړه خرج کړې
بل ځای دا ماجرا په دی ډول څرګندوی:
که دا خپل صورت دی نیست په عشق کی نن کړې اې خوشحاله
بیا د ځان د هستۍ لاف کړه وایه زه هم هست د ده یم

مړینه او ژوندون:

لکه چه نور انسانان مرګ ته د بیری په سترګه ګوری، بالعکس متصوفین بل نظر ورته لری. دوی مړینه عین ژوندون ګڼی، او وائی چه د انسان روح د عالم قدس سره کار لری، چه بدن مړ شی، نو روح خپل مرکز ته صعود کوی، مولانای روم په مثنوی شریف کی دغه مسئله ښه اوڅاروی:

این بقاها از فناها یافتی          از فنا پس نرو چرا بر تافتی
در فناها این بقاها دیدهٔ          بر بقای جسم چون چسپیدهٔ!

صوفیه تل د مړینی په ارمان ژاړی، او خپل مرکز ته ارتقا غواړی:

بشنو از نی چون حکایت میکند          و ز جدائی ها شکایت میکند
کز نیستان تا مرا ببریده اند          از نفیرم مرد و زن نالیده اند

خوشحال خان هم لکه پاخه صوفیان د انسان مرګ وصول د څاڅکی ویم ته بولی او وائی:

په څه شان راغلم په څه شان درومم          قطره چه بیله شی درومی بیایم ته

ځکه چه په مرګ کی روحانی ارتقاء ده، نو مرګ تر ژوندون ښه دی، ولی چه توره او سپنه د هنداری په څیر روښوی:

چار د مرګوتۍ معاینه ده          ښه تر ژوندونه هر آئینه ده
پښ تیشه ما ته کا آئینه سازه کا          چه تر تیشه نه ښه آئینه ده

خپلوۍ او مینه:

تصوف د خپلوۍ او مینی دنیا ده، د صوفی په نظر کی دنیا د قدرت د جمال مظهر ده نو چه دی د حقیقت په سترګو ګوری، هر ځای د هغه جمال تجلیات او انوار وینی:

چشمی داری و عالم در نظر است          دیگر چه معلم و کتابت باید

نو ځکه د صوفی په نظر کی دنیا ټوله محبوبه ده، د هیچا سره دښمنی نلری، حاحظ په دغه مرغ د کونینو سره په روغه کی دی:

زیمن عشق بکونین صلح کل کردم          تو خصم باش و زما دوستی تماشا کن

خوشحال چه دی مقام ته راشی نو وائی:

له دو اویا مذهب سره به ساز وکړې له دله          خوشحاله که خبر شی په تحقیق د عشق له کیشه

خوشحال خان له دغه متصوفانه فکره، یو اجتماعی فکر هم مومی، او د بشر پر ګندؤ او د انسانانو پر ډول ډول اختلافاتو افسوس کوی او وائی:

یو ئې اصل سره دوه اویا مذهبه          خدایه څه بنی آدم فریق فریق شه

اخلاق:

د تصوف سټه اخلاق دی، تزکیه د نفس او سموالی د اخلاقو خو و صوفی ته لمړی وظیفه ده. خوشحال خان خو د اخلاقو و سمون ته ډیر اهمیت ورکوی، د ده کلام اکثر اخلاق دی، رضا، قناعت، صبر، خاکساری، درویشی، انزوا، د وګړو چوپړ، په ورین تندی ژوندون، پټه خوله والی، تحمل او نور ټوله ښه اخلاق ده پخپل کلام کی ستایلی او توصیه ئې کړې ده، چه تاسی بې په مطالعه کی د کتاب ووینی.

# پښتون خوشحال خان

هر ملت ځانته ځنی خواص او مزایا لری. چه هغه نو مایه د افتخار د ده وی، د هر ملت پسیکولوژی (روحیات) بیل دی او اخلاق او دودونه ئې له نورو څخه جلا دی. چه په هغو سره پیژندل کیږی، او په هغو اخلاقو سره لوړیږی، یا کښته

کیږی. د علم الروح پوهان خو دغه اخلاق او مزایا او ملی خواص د ملتو د ژوندون سټه گڼی او وائی چه هیڅ ملت بیله خپلو ښیگړو ژوندی نه پاتیږی.

انما الامم الاخلاق ما بقیت        فان ذهبت اخلاقهم ذهبوا

پښتون خو یو اصیل ملت دی او هر کله پخپلو ملی ښیگړو ژوندی دی، د پښتون ملیت او ملی خواص ټوله پښتنواله بولی، او په پښتنو کی پښتنواله مخصوص اصول او قوانین لری. د پښتو لار د پښتنو زوړ اجتماعی میراث دی، پخوانو پښتنو ټولو تر دغو اصولو لاندی ژوندون کاوه. خوشحال خان خو د پښتنو ادیب دی، نو د ده کلام هم له پښتنوالی ډک دی، د پښتنو او پښتنوالی خواص او مزایا خورا ډیر دی، چه جلا کتاب غواړی، مگر موږ دلته د خوشحال خان د وینا، د پښتنوالی خوا ښکاره کوُو:

(۱) پښتون خو فطرتاً په اخلاقو او اجتماع کی عاجز دی، او بې ځایه کبر نلری، مگر دا تر هغه وخته چه څوک د ده پر حقوقو تجاوز و نه کی، د پښتونوالی حکم دا دی، چه پښتون پر ځان باندی د بل تعرض نشی منلای، خوشحال خان دا د پښتنو لار داسی ښئی:

که په توره ئی ځواب ورکړی مردی ده        چه وجود دی څوک آزار کاندی په چوب

(۲) په گرانو چارو او مشکلاتو کی ټینگار او ثبات د پښتنوالی لوی رکن دی، پښتون سر بایلی، مگر میدان نه پریږدی، خوشحال خان پخپله هم د دې میدان زمری دی، ده اویا کاله په پښتنواله د ډیرو ناورینو سره د زمری په څیر مقابله کړې ده، دی وائی:

په جهان د ننگیالی دی دا دوه کاره        یا به وخوری ککریَ یا به کامران شی

دی دومره پر ځان ویسا او اعتماد لری، چه فقط ځان د ټولو معایبو په مخ کی کافی گڼی:

د مزریو مړنتوب په لښکر نه وی        مې ئې هر کله یوازی پخپل ځان شی

دی د مقصد په لار کی تر دې حده د زیار طرفدار دی:

تر مطلوبه پوری شرط د سیدو دی        که تمامه لار په وینو شی آلوده

پښتون د هر راز مشکل په مقابل کی نه ښائی چه د همت لار پریږدی:

که اسمان دی د مزری په خوله کی ورکا        د مزری په خوله کی مه پریږده همت

خوشحال خان د مغلو په مقابله ډیر ټینگار وکړ، په پای کی چه د هغو په لاس کښیووت هم د ده د پښتنوالی غرور او د نفس لوړتیا د هغو مظالمو نکړه ورماته، بلکه له بندی خانی څخه د مغلو هم خپلو زامنو ته ډاډ ورکوی، د ده حماسی افکار دلته ښه څرگندیږی، چه تاسی دا منظوم مکتوب ولولی:

په مردن پروا دار نه یم        په زندان پروا دار څه یم
اشرفخان دی راته کښلی        څه خو خوښ په خط د ده یم
پنځه میاشتی یم په بند کی        بابا ډیر ډاډه په زړه یم
زویه ما خو غم د تا کړ        چه ته ښه ئې زه خو ښه یم
چه فلک سره را باسی        په همت کی هغه زه یم

دا مکتوب په بند کی خان د خپل زوی اشرف خان په ځواب کی لیکلی دی.

خوشحال خان هغه زړه چه د مشکلاتو په مخ کی ولویږی، دسره زړه نه بولی:

واړه زړونه فراغت وی په ښادی کی        چه په غم کی مردانه شی زړه هغه

(۳) رشتیا: په پښتنواله کی رشتیا ډیر اهمیت لری، درواغجن ته پښتون نه ویل کیږی. خوشحال خان د رشتیا په لار کی و هر راز تاوان ته ولاړ دی، که څه هم په رشتیا کی خلق د ده سره میرخی کوی، مگر دی تر رشتیا نه تیریږی:

چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رشتیا رشتیا خبرو        عالم د ځان دښمن کړم که دا عیب دی هم دِ وِی!

خان د درواغجن خوله اصلاً خوله نه بولی، د ده په مذهب او د پښتنوالی له پلوه خوله هغه ده چه رښتیا وائی:

چه دروغ تر خوله وباسی کله خوله ده        چه رشتیا تر خوله وباسی خوله هغه!

(٤) ننگیالی توب او میړانه: ننگ او میړانه هغه شیان دی، چه د پښتنوالی ولی پکی ولاړ دی، که دغه نه وی، پښتنواله هم قطعاً نشته، پښتون د ننگی پر لار سر ورکوی، اما بی ننگی نشی منلای:

په تور توپک ویشتلی راشی د بی ننګۍ احوال دی مه راځه مینه

د پښتنوالی دا مزیت او د پښتنو دا خاصه هغه ملی ممیزه ده، چه د دوی ثانوی طبیعت ګرزیدلی دی د پښتون ژوندون چه په ننګه او پښتو او میړانه وُ، داسی ژوندون ژوندون نه بولی:

ورځه ورځه تر دکن تیر شه د بی ننګانو تر ژوندون ښه دی مرګونه

خوشحال خان هم د ننګی د لاری لیونی دی، د ده کلام د پښتنوالی دا خاصیت په ښه ډول تشریح کوی، دی د پښتو د میړانی حقیقی معرف دی، لکه چه وایی:

ننګیالی د ننګ دپاره په هر څه لګوی اور
سر په باد د سړی پر پوزه چه ئې نه وی ژوندون نور
چه په نام و ننګ اړ نه وی که تل ژوی مخ ئې تور
سر په دار لک شوی ښه دی نه لک شوی پر پیغور

د ننګ سره دا تړلې ده، چه د سړی همت به لوړ وی، او طمع به نلری، خوشحال خان هم د پښتنوالی د ننګ په دنیا کی ډیر مستغنی دی، د ده په نظر څپله غړکه تر سلطنت هم ښه ده:

چه سړې شنوبې ئې څښم په وخت د اوړی بادشاهی د اورنګزیب ځما غړکه

خوشحال خان د پښتنوالی د زاړه عظمت او په هند کی د لودیانو او سوری د پښتنو د شاهنشاهی په یاد هر وخت د حسرت اوښکی تووی او پښتنو ته د خپلو ورکو اخلاقو او ښیګړو توصیه کوی:

د بهلول او د شیر شاه خبری اورم چه په هند کی پښتانه وه بادشاهان
شپږ اوه پیړۍ ئې هسی بادشاهی وه چه په دوی پوری درست خلق وه حیران
یا هغه پښتانه نور وه دا څه نور شول یا د خدای دی اوس دا هسی شان فرمان

پت په پښتو کی یوه جامعه کلمه ده چه لو لمن لری، پښتون پر خپل پت سر ورکوی، خان وائی:

سر دِ درومی مال د درومی پت دِ نه ځی د سړی د چاری کل خوبی په پت ده

یا:

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحاله که ئې نر وینې په سترګو هم ماده دی

یو وخت د خان زوی، چه نظام ئې نوم وُ، مړ شو، خان د ده اما ډیر افسوس کوی چه دا ځلمی کشکی د ننګ په لار کی مړ وای، ولی چه د تلتک مرګ د پښتانه دپاره پیغور دی:

کشکی ځوان د پښتانه په ننګ کی مړ وی نه چه ګور لره روان شو له تلتکه
چه د قام په ننګ کی ومړ هغه زویه په عالم کی د خپل پلار غاړه کا لکه

نو په پښتنواله کی هغه مرګ چه د ننګی په لار کی وی ډیر ښه دی!

خوشحال خان دنیا او ژوندون ټوله ننګ ګڼی، که پت نه وی ژوندون هم نشته، او د پت سره ژوندون که څه هم خوار وی، مګر ساریَ د پاچهیَ دی:

جهان شرم نام او ننګ دی که دا نه وی جهان ړنګ دی
چه خوشحال باندی ناستې کا دا پوزی ندی اورنګ دی

(۵) بډائی او تمول: په پښتنواله کی بډایی او تمول خاص د دغه دپاره ده، چه نور استفاده ځنی وکی، بخل او کنسکی په پښتو کی نشته، پښتون د ماله سره له دې پلوه مینه لری، چه په نورو ئې وخوری، خان هم اباًعنجد سخی او غنی سړی وُ، ده د خدای کوټه مال ټوله د سخا په لار کی صرف کړی دی، دی وائی:

چه ګڼل خورول بخښل کا ځوان هغه چه توره لری د توری خان هغه
چه ئې ته په ګیډه وخورې حبطه شی د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه

د خان په نظر کی بډای هغه څوک دی چه د ده تر ثروت ګټه نور اخلی:

دولتمن سړی هغه بللی بویه چه له سینده ئې جدا د چا واله شی

خوشحال خان وائی: چه زه د زور دښمن یم، او یو ګړی ئې نه پریږدم، ننګیالی سړی خو خپل دښمن تر ځان دمخه کوی، نو ځکه زر زما له لاسه تښتی:

زه او زر سره له ځایه غلیمان یو په جهان کی غلیمان سره رغیږی؟

چه غلیم د مړنی په نظر کښیوزی نور ئې زړه د ده و مرگ وته پړ کیږی
شاه زلمی به خپل غلیم کا تر ځان وړاندی و نامرد وته په سل حیلې دریږی

دا وه ځنی خلص مواد چه موږ د پښتون خوشحال خان تر غنوان لاندی راوړه، ځکه چه دا مضمون ارته لمن لری، نو مو د اختصار په سبب لنډ کی، البته پخپله ویونکی به هم د خان په کلام کی د پښتنوالی ډیر مزایا مومی.

# توریالیَ او جنگیالیَ خوشحال خان

خوشحال خان محض ویونکی او یوازی شاعر ندی، بلکه د ده د قول سره عمل او د گای سره کړن ملگری دی نو لکه دی چه په ویلو او شاعری او ادب کی، پلار او مشر گڼل کیږی، دغسی هم په حرب او توره کی سردار دی، توریالی توب د پښتنو په خټه اخښلی دی، پښتون چه توریالی نه وُ، پښتون ندی. پښتون د وسلې او توری سره ډیره مینه لری، معشوقه هم د عاشق په توریالی توب نازیږی:

توری به نه کړې نو به څه کړې چه دِ شیدې د پښتنې رودلی دینه

پښتنه مینه د بې زړه او بې توری مین عشق پیغور گڼی:

له سپینی توری نه دِ تر پلود پر بیگنۍ درکړې خوله پښیمانه یمه

خوشحال خان خو حقیقی پښتون دی، نو ځکه توریالیَ دی، او دی د خپل عصر یو نامور عسکری قائد گڼل کیږی، هغه جنگونه چه ده د مغولو د شاهنشاهۍ د لښکرو سره کړی دی، مشهور دی، د ده حربی او جنگی احساسات خورا تاوده او آتشین دی، او د عمر ډیره برخه ئې په جنگو کی تیره شوې ده، او په اکثرو جنگو کی ئې ټپونه اخستی دی:

د خان کلام جنگی او حربی برخی ډیری لری، او د توریالی توب په ستاینه کی داسی ویناوی لری چه د پښتنوالی ترجمانی ئې کوی:

گل گټنه ده د توری که کابل دی که کشمیر
مړنی دی چه یادیږی په سندرو هم په ویر

خان د حرب عملی روح لری، او هر ځای پخپله د خپل لښکر سره یو ځای په جنگ کی دریږی:

د تورو په میدان کی چه سودا وی د سرونو هغه زمان می گوره تل به سور وی د ما آس

خوشحال خان د جنگ په میدان کی د توری له پرهار خوند اخلی، او دغه د میړانی محک گڼی:

کله مړنی دی چه د توری په میدان کی دی د تیرې توری په پرهار نه وی محفوظ

یا:

چه څرگنده سر بازی کاندی د تورو زه خوشحال خټک تر هسی هنر ځار شم

توریالی سړی هغه دی، چه د جنگ خوږې خبری او ساعت ئې پر تریخ نه وی بلکه د جنگ له میدانه خوند اخلی، د خان د خوښۍ وخت خو هم د جگړې وخت دی:

د خوشحال خټک خوښی په هغه وخت ده چه بریښنا وشی د تورو او د زغرو

خوشحال خان خپله ازلی برخه د توری گڼی او په دغه برخه ډیر خوښ دی:

بله بخره به په زور له چا وانخلی د خوشحال بخره چه توره ده له ځایه

د پښتون زوی چه وزوکیږی، کلی او کور او قام ټوله په خوښ وی، په کلی کی د یوه میړه د زیارت توب د زیری نارې وشی، ټوله په دی خوښ وی، چه یو د توری میړه مو زیات شو. دا ملی خصیصه د پښتنو پر توریالی توب ښه دلالت کوی خوشحال خان دا ملی روح په دی بیت ښه ښی:

یا د ښو زویو سندری دی د زوُ یا د توری په میدان کی هوی وهای دی

د توریالی ملت په ملی اشعارو کی د دوی د حماسه احساسات او افکار ښکاره وی، د عربو اشعار دغه مزیت ډیر لری، شاعران خپل توریالی توب ستایی (السیف و الخیل و البیداء یعرفنی) د پښتون شاعر خوشحال خان حماسی افکار هم د

ده په وینا کی څرګند دی، لکه چه وائی:

لا په خوب کی په لرزه پریوزی له کټه — چه د چا تر غوږ د ما د توری شرنګ شی

یا:

په هغه هنر کی ټینګ اوسه خوشحاله — هر هنر چه سپاهی لری په زړه کی

یا:

د افغان په ننګ می وتړله توره — ننګیالیَ د زمانی خوشحال خټک یم

د پښتنو په نظر کی تر دغه لوړه د پیغور خبره نشته، چه سړی له جنګه تښتی او مردک پر شا وخوری:

هغه هیڅ مړنی ندی — چه به توره په فقا خوری

توره او د جنګ قوه خو په هر وخت کی ښه ده، او ډیر عزت او اعتبار لری، بشریت د دې قوې تابع دی، یو عرب شاعر وائی:

السیفُ اصدق انباء من الکتب — فی حدهِ الحد بین الجد و اللعب

خوشحال خان هم د توری د اقتدار ستاینه داسی کوی:

چه په توره ترکتازی کا — هغه هر کله کامګار دی
چه ئې زړه نه وی د توری — هغه زړونه څه په کار دی
مور دی نشی باندی بوره — چه میړونه د کار زار دی
څوک چه شته تر شرقه غربه — د تورزنو خدمتګار دی

په بل ځای کی خوشحال خان خپل زوی ته داسی نصیحت کوی:

که د نقش د توری کښېنی راته غوږ کړه — کامروا به شی هاله له خپله کامه
ښه ځوانان به خپل هوډ پریږدی له لاسه — که ئې سر شی د خونی مزری تر زامه
که تل توری غشی خوری ماتی د جنګ وړی — مرد به سوړ نشی په زړه له انتقامه

په دی رباعی کی خان د پښتنوالی جنګی روح ښه ښکاره کړی دی:

زویه ور ور مشه چه ځوانمرد نه وی — مرد د ټیکلی مرد د نبرد نه وی
میړه ئې مه بوله ښځه پرې نوم کښېږده — چه د جنګ غشیورباندی ورد نه وی

یا:

چه مین په وسله نه وی — مرد دِ نه وائی خپل ځان ته
لاس دِ سره کا سترګی توری — ځان دِ وجوړوی ځوان ته

خوشحال خان علاوه پر نورو جنګو تر خپل بند وروسته چه وطن ته راغی، د عمر تر پایه ئې د مغولو لښکرو سره سخت سخت جنګونه وکړه او تر پایه د پښتانه په څیر د مغولو سره د خپلی آزادئ دپاره وجنګیدی او لوی لوی جنګونه د ده په قیادت وشوه چه دی ئې پخپله په یوه قصیده کی چه په ۱۰۸٦ هـ کی ئې په برمول کی ویلې ده، داسی شمیری: د تهتر په جګړه کی ده د مغولو ٤۰ زره عسکر قتل او تاراج کی، د میر حسینی د نوښار، د ګنداب، د خاپس جنګونه ئې مشهور دی. د دې حماسی قصیدې په پای کی خپل حربی احساسات داسی ښکاره کوی:

ساقی راشه ډکی ډکی پیالې راکړه — چه د میو په مستی کی شم سرشار
پښتنو ځلمیو بیا لاسونه سره کړه — لکه باز منګلی سرې کا پخپل ښکار
سپینی توری ئې ګلګونی کړې په وینو — په اهاړ کی شګفته شو لاله زار

خوشحال خان په حیث د یوه جنګی قائد، د مغولو پر لښکر باندی سخت یرغالونه کړی او خپل جنګی د پښتنوالی روح ئې غلیمانو ته څرګند کړی دی:

تر اورنګ پاچا می ویوست — تاو د بند او د زندان
نقش می کیناوه د توری — په هندو په مسلمان

د ده نور حماسیات او عسکری افکار او جنګی کارنامې به د ده په کلام کی خاص بیا د قصائدو په برخه کی وګوری.

# رند خوشحال خان

په مشرقي شاعري کې رندانه اشعار او فکاهي مضامین خورا ډیر دی، دا ګویا د مشرقي شاعرۍ یو ټوک دی! په پارسي کې له زړو ادیبانو څخه تر متأخرینو پورې اکثر داسې اشعار لري، چه کله کله تر رندۍ هم اوړي. د انوري اشعار په قدماوُ کې او د قاآني او جلال الملک او نورو فکاهي شعرونه ډیر دي.

په حقیقت کې خو شاعري د طبیعت ترجماني ده، شاعر قلبي واردات په الفاظو سره منظوم کوي، نو انسان خو مختلف احوالونه او اوضاع لري، البته په هر حال کې چه شعر ویلی شي وی  د هغه حال تصویر دی، سعدی د انسان حال ښه بیانوي:

ګهی بر طارم اعلی نشینم　　　　ګهی بر پشت پای خود نه بینم

د خوشحال خان په کلام کې هم رندانه او فکاهي مضامین ډیر دي، ممکنه ده چه ځنې خلق به ئې دغسې اشعار خوښ نه کي، مګر موږ د دی دپاره دغه اشعار د ده له کلیاته نه دي ایستلي، چه یوه مکمله نسخه منځ ته راسي.

ځکه چه د ده اشعار هره خوا لري، نو البته هر څوک به پر "خذما صفا ودع ماکدر" کتنه پکې وکي اما که څوک دغسې اشعارو ته د عیب په نظر وګوري، نو به دا ادبي سهو وي، ولې چه د هیڅ ادیب کلام له دعسې شعرو څخه خالي ندی، که چا د مثنوي شریف قصې او د انوري، سعدي حتی د بیدل غزلیات لیدلي وي، نو به زموږ رند خوشحال خان هم نه پړوي!

# وطني خوشحال خان

د وطن مینه او د خپلې خاورې محبت لکه چه د انسان په خټه کې شته، پښتانه خو په خاص ځیر د وطن سره مینه لري، دوی متل کړی دی چه هر چا ته خپل وطن کشمیر دی!

خوشحال خان هم د خپله غره سره ډیره مینه لري، د ده عمر د وطن د خاورې په ساتنه کې تیر شوی دی او ځان ئې پر دغه خاوره وژلی دی.

خوشحال خان ډیر وختونه د خپلې خوږې مینې په بیلتون لیرې په هند کې تیر کړي او د وطن غوښتو په تور د مغلو په لاس بندي وُ، زموږ پښتون بلبل، د هند په قفس کې بندي دی، او د وطن د غرو او ونو او ګلستان په ارمان خورا د ویر نارې وهي، د ده زړه د وطن د مینې خوږمن دی، د بیلتانه سندرې او کوکارې ځنې خیژي:

که یو ځله مې رسد وشي تر سینده　　　　نور دې مه وینم په تورو سترګو هنده
نه به سترګې د سړي په چا خوږې شي　　　　نه ئې ما ته په اوبو شي د چا تنده

خوشحال خان بیله خپله وطنه په هیڅ ځای کې نه خوښیږي:

د خوشحال د زړه خوښي نشي بی سرایه　　　　خپل وطن ئې پر هر چا باندې کشمیر کړ

خوشحال خان د هند له بندیخانې څخه خپل وطن ته داسې سلامونه او د زړه احترامونه استوي:

که ګذر په خیر آباد وکړې نسیمه!　　　　یا دې ګښت وشي د سرای د سیند په سیمه
په وار وار سلام ځما ورته عرضه کړه　　　　ورسره ځما د لوریه څو تسلیمه

خوشحال خان له بندیخانې څخه خپل د زړه اور او د بیلتون نارې او غلبلې تل وطن ته را استوي او خپلې اوښکې د وطن په یاد بهوي:

د بټو اوښې مې وینې شي ترې څاڅي　　　　دا د تن جامه مې نه وي د اغوستو
دا غزل چه د خوشحال ورشي تر سرایه　　　　ښه یاران به ئې ناري وکا په لوستو

وطن خو ګران دی ولې چه هلته سړی زوکړی وي، او د هغه ځای په اوبو او هوا لوی شوی وي خاص بیا هغه وخت ډیر ګران دی چه د سړي خواږه خپلوان او اشنایان هلته وي، یو عرب شاعر دا وطني فلسفه داسې ښئي:

و من مذهبی حب الدیار لاهلها　　　　و للناس فی ما یعشقون مذاهب

خوشحال خان هم دغه فلسفه په ښه ډول څرګندوی:

چه پکی خواږه یاران دی پیښور تر هر دیار ښه
ښه په هند کی چنبا ګل دی تر دا ګل د وطن خار ښه
د سرای قدر نور چا نزده په خوشحال دی تر فرخار ښه

خوشحال خان په هند کی اوسی، د دې ځای حیات د ده په نظر کی یو دوږخ دی، د وطن په یاد داسی ژاړی:

نور جهان سقر شو باندی سرای دارالقرار دی کله به خوشحال دارالقرار لره ور درومی

د خوشحال خان وطن د پښتونخوا یو سپیره غر دی که څه هم دا ځای نور څوک نه خوښوی، مګر د ده په نظر کی داسی قدر لری:

د وطن ونی چندڼ اګر دی خاوری ئې واړه مښکو عنبر دی
که سرای و نورو وته سنګر دی کاڼی ئې واړه ماته سره زر دی

خوشحال خان د مغولو د لښکرو او جګړو څخه په وطن کی ډیر تنګ دی، د هغو د جهانګیری حرص دا سپیڅلی پښتون پخپل غره کی هم نه پریږدی، مګر دی د وطن حب دومره لری چه هیڅکله خپله خاوره غلیمانو ته نسی پریښوولای:

درزی لا ګرز لری غچی سوزن لری یو جمدر ګوتې خوشحال خیرن لری
کوچ ئې آسان دی مشکل هیڅ ندی غم د یارانو درد د وطن لری

په دی ډول خوشحال خان یو حقیقی وطن دوست او پر مینه مین پښتون دی:

پښتنی جونی دِ زلفی باد ته نیسی چه شمال ئې بوی راوړی په رنتبر کی

# سیاح خوشحال خان

خوشحال خان یو سیاح او جهاندیده سړی دی، دی په ټوله هند کی ګرزیدلی او د مشرق په ډیرو ځایو کی ئې سیاحت کړی دی، د ده تجربه او توریالی توب او ادبی اقتدار هم په دغه سبب ډیر دی پخپله وائی:

کوم ملک دی له ما پاتو چه می پل ندی پریښی هر ځای به ورته یاد کړم که څوک سته سیاحت کړونی

د ده اشعار اکثره په نورو ځایو کی ویل شوی دی، ، چه دا نو د ده جهانګردی را ښئی مثلا په ۱۰۸۰ هـ کال چه دی په کابل کی وُ، یوه بدله ئی ویلې ده، هلته وائی:

پوره زر اتیا کالونه په کابل کی دا غزل می په بیاض باندی تحریر کړ

په دغه ډول خان یو جهاندیده او سیاح سړی دی.

# مؤلف او لیکونکی خوشحال خان

خوشحال خان که څه هم د عمر ډیره برخه په جګړو او کشمکش کی تیره کړیده او د توری د میدان بریالی او نامتو قائد دی، دغسی هم په علم او ادب کی ښه نوم لری، دی د پښتو ژبی پلار ګڼل کیږی، او ډیر کتابونه ئې لیکلی دی، د ده کلیات او اشعار تر ۴۰ زرو پوری رسیږی او نور ډیر تالیفونه لری، چه اوس متأسفانه ورک دی، د اروپا مستشرقین تر سل جلدو پوری د ده تألیفات ګڼی او مستر راورتی ئې تألیفونه ۲۵۰ بولی.[1]

خوشحال خان د پښتنو تاریخ لیکلی او پارسی انوار سهیلی ئې په پښتو د عیار دانش په نوم ترجمه کړی دی، او یو

۱. د پښتو شعر تاریخچه.

جلد کوچنی کتاب ئې متفرق دینی مضامین لیکلی دی.[1]

خوشحال خان د یاداشتو کتاب هم لری، چه افضل خان د ده لمسی په تاریخ مرصع کی حواله ورته کوی.[2] دغسی هم ده فضل نامه (د توری او قلم پر نزاع) لیکلی ده او فرخنامه او ریاض الحقیقت هم د ده تالیفونه دی، چه اوس بالکل کمیافت دی.[3]! نور ده ده کتابونه او تالیفونه دا دی:

بازنامه: چه د باز او د ښکار بحث دی.

هدایه: له عربی څخه پښتو شوی ده.

آیینه: مذهبی ابحاث دی، له عربی څخه په پښتو.

دستور نامه: د بگړۍ په باب کی ده.

صحت البدن: حفظ الصحه او طب دی.

دغسی هم راورتی انگلیسی مستشرق لیکی، چه خوشحال خان یو راز مختصر نویسی او رزم نویسی ایجاد کړې وه، چه فقط د ده په کورنۍ پوری مخصوصه وه، بل څوک نه په پوهیده، او نوم ئې زنجیری ؤ.[4]

په دې ډول خان یو زبردست لیکونکی او مؤلف ؤ، افسوس دی چه د ده آثار ورک شوی دی.

# د علم او ادب کورنۍ

خوشحال خان یوازی د پښتو ادب خادم ندی، بلکه د ده د ادبی مکتب شاگردان او د ده د کورنۍ افراد هم اکثر فاضل او ادبیان پښتانه وه، د ده زامن او لمسیان او نور د کورنۍ سړی ټوله د علم خاوندان او د ادب د میدان سړی وه، چه د پښتو ژبی او ادب ته ئې لوړ لوړ خدمتونه کړی دی، راورتی وائی: چه د دې علمی کورنۍ ښځی هم ادیبانی وې، او دیوانونه د شعر لری، د خوشحال خان یوه ښځه چه د اشرف خان هجری مور وه، مشهوره شاعره او ادیبه پښتنه وه، چه اشعار ئې سته، د دې ادبی کورنۍ خدمات او علمی کارنامې ډیری دی، بهرام خان د خان زوی ښه لیکونکی ؤ، پخپله خان وائی:

| | |
|---|---|
| عطار دی نور قلم له لاسه کښیږدی | چه په دا خوبی بهرام انشا املا کا |

نور د خان د کورنۍ مشهور ادباء او شعرا دا دی:

(۱) اشرف خان: هجری ئې تخلص او د خان زوی دی، لوی د شعر دیوان لری، چه یوه برخه ئې راورتی په گلشن روه کی چاپ کړې ده، او د ده د شعر روڼه قریحه ښه ځنی څرگندیږی دی په ۱۰۹۳ هـ کال د مغولو لښکرو په بیجاپور کی د دکن بندی کی او پسله لسو کالو حبسه هوری د وطن په بیلتون کی مړ شو، دی وائی[5]:

| | |
|---|---|
| بی وطنه تنها پروت یم په غربت کی | نن له ما سره همدم د صنم غم دی |
| د هواد اشنا په سترگو لیده نشی | که په خوب راته حاضر شی بس کرم دی |
| قاصدان له روهه نه راځی مدت شو | سلام باد را رسوی منت یې تم دی |

(۲) عبدالقادر خان: د خوشحال خان زوی دی، چه په پښتو کی ښه ویل او لوی دیوان لری، ده د سعدی گلستان په پښتو په نوم د "گلدسته" ترجمه کړی دی او په بحر خفیف کی ئې د جامی یوسف او زلیخا ئی په ۱۱۱۲ هـ تمام کړی دی، مستر راورتی د "پښتو شعر په انتخاب" کی دی د ٦۰ کتابو مؤلف بولی، د آدم خان او درخانۍ کتاب هم ده لیکلی دی. عبدالقادر خان مقتدر ادیب دی، چه د خپلی کورنۍ روه ستوری گڼل کیږی دی وائی:

| | |
|---|---|
| زه خټک د یار په غم تازه شوم | غوریه خیل رحمان که شو ورځنی سترۍ |

---

۱. راورتی.

۲. وگوری تاریخ مرصع طبع د پادری هیوز په کلید افغانی کی.

۳. وگوری د پادری هیوز افغانی مقدمه.

٤. د کابل مجله لیک د ښاغلی زمریالی ج ٦، ص٤٩٢.

۵. گلشن روه د راورتی.

(3) صدر خان: د خان زوی ؤ، تخلص ئې صدر دی، دیوان هم لری، د نظامی خسرو او شیرین ئې پښتو کړی دی، دی د عشق یو سبق د دنیا او مافیها دپاره کافی گڼی:

د عشق یو سبق کافی دی　　　　نور د کل جهان دفتر هیڅ

(٤) سکندر خان: د خوشحال خان زوی دی، چه د مهر او مشتری مثنوی ئې لیکلی او د دیوان خاوند دی، دی وائی:

مغنی گوتی په زیر ږدی په بم هم　　　　هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
که ناستی د یار د کوی په خاورو مومی　　　　باغ بهار د سکندر دی ارم هم [1]

(٥) گوهر خان: د خوشحال خان زوی او خاوند د دیوان یو ښه ادیب دی!

افضل خان: د اشرف خان زوی دی چه تاریخ مرصع ئې لیکلی دی، بل تالیف ئې علم خانه دانش او بل کتاب ئې اسم کوفی دی. [٢]

(٧) کاظم خان متخلص په شیدا چه د افضل خان زوی او د خوشحال خان کړوسی دی. شیدا هم د دیوان خاوند او مبتکر ادیب دی، چه په ١١٣٥ هـ کال زیږیدلی او په کشمیر او سرهند او رامپور کی عمرونه تیر کړی دی، شیدا خوږ کلام لری، او د هند د محبوبانو ستاینه داسی کوی:

په هندی ادا ئې وکړی په ما چاری　　　　زه شیدا په زړه ساده د روه افغان یم

(٨) علی خان: هم د خوشحال خان له کورنۍ څخه دی، لوی دیوان لری، زبردست شاعر دی، دا بیت له ده دی:

زه در پسی درسته شپه پټ ژاړم لکه پرخه　　　　ته سبا خندان لکه گل واز گریوان د چا ئی؟

لنډه دا چه له دغی کورنۍ څخه د پښتو زبردست او پیاوړی ادیبان وتلی، او هغه خدمت چه دې کورنۍ پښتو ته کړی دی، بل چا نه دی کړی.

# د خوشحال خان ادبی شهرت

خوشحال خان د پښتو شعر پلار او لمړی استاد گڼل کیږی، خوشحال خان یوازی پښتانه نه پیژنی، بلکه د اروپا محققین او پلټونکی پوهان ئې ښه پیژنی، په ټولو کتب خانو او علمی ځایو کی د ده د دیوانونه شته، او څو تنو د ده ویناوی پخپلو ژبو ترجمه کړی دی.

اسلامی انساکلوپیډیا د ده په باب کی داسی لیکی:

"خوشحال خان توریالی او شاعر او مشهور خان ؤ، د ده اشعار له وطنخواهۍ څخه ډک دی" [٣] ډامسټر فرانسوی مستشرق وائی: "خوشحال خان د توریالی توب او شعر روح گډ درلود" ابراهام گریرسن انگلیس وائی: "خوشحال خان د خټکو توریالی مشر ؤ، د ده شعر نسبت و نورو شاعرانو ته ډیر خوږ دی"، راورټی وائی: " خوشحال خان د پښتو ډیر مشهور ادیب دی، د ده اشعار په اروپا کی ډیر خوښ شوی دی او قدر ئې کوی".

س ای بیډولف د ١٧ قرن په اشعارو کی لیکی: "خوشحال خان ډیر استعداد او فوقالعاده پوهه درلوده، هیڅ مضمون ندی پاته چه ده په شعر کی نه وه ویلی، د ده اشعار د وطن خواهۍ خوا لری، د حرب، عشق، مذهب، اخلاق او فلسفی څخه ویناوی کوی."

دا وه د اروپا د پوهانو افکار نسبت و خان ته، په پښتو کی د ده شهرت او ادبی منزلت پخپله پښتنو ته ښه اوڅار دی، تر دې حده چه د ده ویناوی د عوامو په خولو کی اوس د متلو پر ځای ویل کیږی. مثلاً:

مه خوشحال وای مه خټک وای مه خانی وای　　　　چچ په لاس کی مسلی وای خو ځوانی وای

---

١. د هیوز چمن بی نظیر.
٢. د هیوز کلید افغانی.
٣. اسلامی انساکلوپیډیا ب ٦٧٩، ج ٢.

# وفات او وروستۍ وینا

خوشحال خان د عمر په آخر کی ډیر سپین ږری شو، افریدو ته ولاړ، او عزلت ئې وکړ چه عمر ئی ۷۸ کالو ته ورسیدی په ۲۸ د ربیع الاول ۱۱۰۰ هجری کال سم له ۱۶۲۱ع کال سره په ډیره ناکامی وفات شو، او پخپل مسکن کی چه سرای نومیږی د لوړو غرو په لمن کی ښخ شو.[1] د خوشحال خان وروستی وینا او آخرنی وصیت دغه وُ: "ما هلته ښخ کړی، چه د مغولو سیوری می پر خاوره و نه شی، او د مغولو د سپرو د پښو گرز می پر هدیره و نه لویږی."

د هند فیلسوف علامه اقبال د پښتنو د دی نامتو مشر او ادیب او فیلسوف دا وصیت په دی ډول نظم کړی دی:

کهوں تجھ سے ای ہمنشین دل کی بات — وه مدفن هی خوشحال خان کو پسند
اڑا کر نه لائے جهان باد کوه — مغل شہسوارون کی گرد سمند

# خاتمه

خوشحال خان دا ډیری پیړۍ کیږی چه تر خاورو لاندی دی، مگر د ده نوم تل ژوندی دی، او هیڅکله نه مری، ده پښتنو ته د ملیت لار ښوولی ده، ده د پښتنو مړه ژبه ژوندۍ کړې ده، ده د پښتنوالی په نوم قربانی کړې ده، دی د پښتنو لمړۍ توریالی او عالم او فیلسوف او ادیب او ملی سردار دی، که پښتنواله نه وی مړه، که پښتون ژوندی وی، که دا خاوره د پښتانه په نوم یادیږی، د خوشحال خان په نامه به د افتخار څلی دریږی، او د پښتنو څلمی نسل بې په نوم افتخار کوی، او په خوشحال خان به ویاړی.

ما دا کرښی د دی ښاغلی په نامه ولیکلې، گوندی څلمی پښتانه ئې ولولی او د ده روح ښاد شی.

رحمة الله علیه رحمة واسعة

همیشه به پری ناری وی د بلبلو — دا چه ساز کړ نن خوشحال په ویل باغ

# پارسی اشعار

خوشحال خان په پارسی کی هم روانه طبعه لری، او خواږه اشعار په دغه ژبه کی وائی، مگر د ملیت په مینه دی پښتو شعر غوره کوی، لکه چه پخپله وائی:

پارسی شعری هم زده سلیقه لرم د دواړو — د پښتو شعر می خوښ شه هر څوک خپل گنې ښاغلی

خوشحال خان په پارسی شعر کی کوهی یا روی تخلص کوی، د ده ډیری پارسی بدلی شته، موږ دپاره د نمونې د ده څو بدلی دلته را نقل کوو:

پیر ما از می پرستی توبه فرماید مرا — الله الله وقت گل این توبه میشاید مرا
هر که از نظارهٔ روی بتان منعم کند — پند او گیرم بدل در دل نمی آید مرا
شوق زلف یار دارم بر جنون خویشتن — خود گواهی میدهم زنجیر می باید مرا
غم چو آتش دل سمندر وار میرقصد درو — راستی جز غم کنون خاطر نیاساید مرا
از جفای خار بلبل بر نمیگردد ز گل — چون جفایش بیش بینم مهر افزاید مرا

نام لبت گرفتن شیرین کند دهانرا — خو شوقت آنکه بوسد پیوسته آن لبانرا
درد درون دلرا گر درکشم بپوشم — لیکن چه چاره سازم این چشم خون فشانرا

---

۱. د هیوز کلید افغانی او د سرحد مجله.

هر گفتگو که باشد جز ذکر روی آن بت — نامردم ارنه بندم زان گفتگو زبانرا
مجنون و ذکر لیلی فرهاد و ذکر شیرین — در پیش شان چه خوانی صدگونه داستانرا

نو بهار و می و معشوقه و جامست اینجا — زهد و پرهیز و ورغ را چه مقامست اینجا
قصه کوتاه که در مذهب ما ای صوفی — غیر می هر چه بود جمله حرامست اینجا
یارب آن مغبچه را هیچ گزندی مرسان — که برویش نگران خاص دعواست اینجا
پیشم از مشک خطا دم مزن ای باده فروش — که پر از نگهت آن زلف مشامست اینجا
شاه من تند مران رخش که بس مردم شهر — بهر نظارهٔ تو بر در و بامست اینجا

ازو دل بر گرفتن کار من نیست — که از جان سیر گشتن کار تن نیست
چمن را گر چه گلها بس شگرفت — ولی همچو رخت گل در چمن نیست
مرا گوئی بگو وصلت دهانم — چه گویم چون درو جای سخن نیست
من و سودای رویت تا که هستم — اگر چه خود ترا پروای من نیست
چرا خوشحال را پرسی که چونی — مگر از چهرهٔ او مبرهن نیست

حدیث روی او با من بگوئید — به بلبل از گل و گلشن بگوئید
نه آن چشم و نه آن مژگان نه ابروست — بلای دین و جان و تن بگوئید
ز سیل اشک من پروا ندارد — دلست این سنگ و یا آهن بگوئید
شب وصل است مو آنجا نمانده — تو کی گنجی به پیراهن بگوئید
ز لعل شکرین او نباتی — بکوهی میرسد من من بگوئید

نیست دمی که نرگست فتنه بپا نمیکند — نیست شبی که دیده ام بیتو ژرا نمیکند
آنچه دو لعل تو کند آبحیات کی کند — آنچه دو زلف میکند مشک خطا نمیکند
نگهت زلف مشک بو میطلبم به آرزو — چون کنم این ترحمی باد صبا نمیکند
وقت بهار میرود بلبل خوشنوا بخوان — دور نشاط گل چو عمر هیچ وفا نمیکند
روهی وجور مهوشان درد و بلای عاشقی — لذت درد یافته، یاد دوا نمیکند

لطف بی حد و بی عدد کردی — اینکه قتلم به تیغ خود کردی
تیغ تو آب زندگانی داشت — کشتی و زندهٔ ابد کردی
دل ز من خواستی و جان دادم — جان من بازگو که بد کردی
چه شرابیست اینکه روهی را — بیکی جرعه بی خرد کردی